

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورمبنۍ ټولګه

# غوټۍ اوړېده

(افسانې)

ليکوال : ګل رسول ايلمَ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

پیل کوم په نامه د الله چې ډېر مهربانه او بخښونکې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چاپ ټول حقوق د ليکونکي پهٔ حق کښې خوندي دي

**Disclaimer**

This is a work of fiction. Names, characters, businesses, places, events, locales, and incidents are either the products of the author's imagination or used in a fictitious manner. Any resemblance to actual persons, living or dead, or actual events is purely coincidental.

یادګیرنه

د دې افسانو ټول کردارونه فرضي دي کهٔ کوم کردار یا کومه واقعه د چا د کردار یا د ژوند د ریښتنې واقعې سره مناسبت لري نو دا به قطعاً یو اتفاق وي ځکه چې لیکوال د ټولنې خبرې کوي د ذات نهٔ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب پېژنګلو


| | | |
|---|---|---|
| کتاب نوم | ---------------- | غوټۍ اوړژېده |
| لیکونکی | ---------------- | ګل رسول ایلمؔ |
| رابطه نمبر | ---------------- | 03449507275 |
| اي میل | ---------------- | *mukhlis.gul.rasoolkhan@gmail.com* |
| اشاعت | ---------------- | اکتوبر 2021ء |
| کمپوزر | ---------------- | ګل رسول ایلمؔ |
| بیه | ---------------- | 250 روپۍ |
| شمېر | ---------------- | پینځۀ سوه |
| پروف ریډنګ | ---------------- | همایون غزلؔ |
| د چاپ ځائے | ---------------- | عامر پرنټ اینډ پبلشرز، پېښور<br>*aamirprint2010@gmail.com*<br>*0300-9019499* |


## د موندلو درکونه

* حماد بک سنټر امیر افضل خان پلازه مېن بازار بټخېله
* پښتو اکېډیمي کتاب پلورنځائے پېښور پوهنتون
* سدیس بک ډپو مېن بازار منډا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټړون

د هغه چا په نوم چې ټول عمر ئې زما په نوم فخر کړے دے او
زۀ ئې دُنیا او په اخیرت د خپل سرتاج ګڼلے یم -

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

* د پښتو د افسانې او شعر لوئے نوم (لائق زاده لائق) صيب ته چې زما اوستاذ دے او زما ئې په ډېر اخلاص سره رهنمائي کړې ده -
* زما خوږ يار همايون غزل صيب ته چې په ما ډېر ګران دے -
* هغه چاته چې د پښتون او پښتو ژبې سره مينه کوي -

په درناوي
ګل رسول ايلمؔ
کوز دير بخت بلنده خادګزئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


❖ د ګل رسول ایلم افسانې ........ 10
❖ غوټۍ اورژېده یؤ تاثر ........ 15
❖ شلمه صدۍ او پښتو افسانه ........ 17
❖ ګل رسول ایلم او افسانه ........ 20
❖ د ګُل رسول ایلم " غوټۍ اوریژېده" ........ 21
❖ دا قیصې ........ 23
❖ د ایلم جان لنډه پېژنګلو او افسانې ........ 24
❖ خپلې خبرې ........ 28
1) نیمګړے ارمان ........ 31
2) حوالات ........ 37
3) دوه بجې ........ 42
4) بدل ........ 49
5) غوټۍ اورژېده ........ 53
6) قاري صیب ........ 57
7) د ټوپک شپېلۍ ........ 61
8) قلم ........ 68
9) خندا کۀ ژړا ........ 74
10) رحم ........ 80

(c) ketabton.com: The Digital Library

11) د مېنې کور ........ 83
12) لوې سړے ........ 87
13) تش لاس ........ 92
14) زهر ........ 95
15) تمّنا ........ 97
16) جرم ........ 99
17) چغې ........ 102
18) درې بنې ........ 105
19) ننداره ........ 109
20) څادر ........ 111

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ګل رسول ایلم افسانې

دا د افسانې دور دے، که اردو ادب دے، که نړیوال ادب او که پښتو ادب، خو په منثور ادب کښې غالب رجحان او مېلان د افسانې په لوري دے ، هم دغه وجه ده چې دومره قلیل وخت کښې افسانه د خپل عروج تر بامه رسېدلې ده او د هغې نه هم په بره د تللو کوشش کوي، او په دغه کاوش کښې تر ډېره حده کامیابه او کامرانه هم ښکاري، ددې د کامیابۍ یو بل راز دا هم دے چې د افسانې لمن ډېره فراخه او وسیع ده، عهد به عهد دغه لمن خپل فراخوالي له نور هم وسعت ورکوي او د افسانه نګار او تخلیق کار نه د نوؤ نوؤ تجربو، قسمونو، قیصو، او د نوؤ موضوعاتو غوښتنه کوي، نوي نوي څیزونه په ځان کښې جذب کوي او دغه عمل لا مخ په وړاندې روان دے، هر څو که زمونږ د پښتو ادب افسانه هم د نړۍ د دغه نورو ژبو د ادب د افسانه نګارۍ سره په دغه سفر کښې شامله ده او د دغه زغل (Race) برخه ده، خو په دغه مقابله کښې لږه کمزورې هم ښکاري، د هغې وجه دا ده چې زمونږ پښتو افسانه چې له کومه راؤچته شوې وه او له ځان سره یې څۀ راؤړې وو زمونږ افسانه نګارو دا د هغه ځایه نۀ خوځوله ، هم په هغه ځائے باندې ساکت

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جامد ولاړه وه، خو ولې کۀ مونږ وګورو نو د دې په نسبت د دغه نورو ژبو افسانه لالچې وه او ده هم دغه وجه ده چې د ارتقاء په سفر کښې ډېره مخ په وړاندې لاړه، خو دا د پښتو افسانې خوش قسمتي وه چې کله پښتو افسانه د ارواښاد طاهر افریدي صیب لاسو له راغله، نو هغوي پښتو افسانه د نوؤ رجحاناتو سره مخ کړه او دغه شان زمونږ افسانه وځلېده او هغه جمود یې مات کړو ـ نن سبا ښاغلے فاروق سرور د پښتو افسانې سر څنه کوي ـ پښتو افسانه یې نوؤ موضوعاتو او رجحاناتو سره اشنا کړه ـ ارواښاد طاهر افریدي چې د علامتي افسانې کومه ابتداء کړې وه فاروق سرور په دغه لړ کښې پښتو افسانه د عروج تر بامه ورسوله ـ پښتو افسانه ئې د علامت نه هو څو قدمه وړاندې د تجرید په لور ګامزن کړه ـ هغه وخت لرې نۀ دے چې پښتو افسانه د نړیوالې افسانې سره په یو صف کښې څنګ په څنګ ودرېږي ـ

پښتو ادب کښې د افسانې په لوري د نوي کهول دغه زیات مېلان او رجحان یو نېک شګون دے خو ورسره مونږ له پکار دي چې مونږه د موضوعاتو او رجحاناتو په لړ کښې د جمود ښکار نۀ شو او مونږ خپله افسانه د نوؤ نوؤ رجحاناتو سره مخ کړو نۀ دا چې هم هغه زوړ امام او زړې تراوې ـ یو بهترینه لار دا هم ده چې مونږ وخت په وخت د پښتو افسانې د نړیوال ادب د افسانو سره یوه تقابلي جاج هم اخلو، دغه جاج په دې بنیاد هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


ضروري دے چې زمونږ افسانه هم د دغه ژبو راکړے شوې تحفه ده او دا لازمه خبره ده چې کوم ځائے د یو څیز بنیاد او اصل وي د هغې د معیار مرکز به هم هغه ځائے وي - پروفېسر ډاکټر حنیف خلیل صیب په خپل کتاب" پشتو زبان و ادب کی تاریخ "کښې لیکي چې:

"پشتو میں افسانہ نگاری کی روایت کو ہم چند استثنائی مثالوں سے قطع نظر، انگریزی اور اردو ادب کی ہی دین سمجھتے ہیں "

بهر حال دغه تقابلي جاج اخستل به زمونږ افسانې دپاره د تحرک سبب ګرځي او مونږ ته به د افسانې د نوؤ غوښتنو اندازه هم کیږي -

ګل رسول ایلم د نوي کهول یو نمائنده شاعر او ادیب دے - ډېر فعال، متحرک او خواري کښ لیکوال دے - موصوف سره زما تر اوسه مخ په مخ لیدل نۀ دي شوي بلکې د سوشل میډیا په ذریعه مو پېژندګلي شوې ده او هم دغه زمونږ د تعلق او تړون ځانګړې حواله ده - ګل رسول ایلم د څۀ مودې راهسې افسانه لیکي او اوس ئې د " غوټۍ وړژېده " په نوم خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي چې په منثور ادب او بالخصوص قیصه ایز ادب کښې یوه ښۀ او ګټوره اضافه ده - د موصوف دغه افسانې هم روایتي افسانې دي - دا خو ښکاره خبره ده چې یو لیکوال او تخلیق کار چې د کومې خاؤرې او وطن سره نسبت او تړون لري، په هغۀ به د هغه روایاتو او کلتور اثر ضرور وي، او

(c) ketabton.com: The Digital Library


بیا دغه اثر د هغهٔ په تخلیق کښې څرګندېږي، ځکه چې یو ادیب هغه څهٔ بیانوي، د هغه څهٔ ترجماني کوي څهٔ چې هغه په خپله ټولنه کښې ویني ګوري ـ لکه یو مغربي نقاد آرنلډ وائي چې ادب د ژوند تنقید دے ـ نو خبره د اثر اخستو ده ـ بیا په افسانه کښې د دغه اثر نه زیاته قیصه متاثره کېږي او ځنې نقادان په افسانه کښې د ټولو نه اهم څیز هم قیصه ګڼي ـ

پروفېسر ډاکټر حنیف خلیل لیکي چې:

"فکشن اور خصوصی طور پر افسانہ میں قصہ (Tale) شہ رگ کی حیثیت رکھتا ہے "

بنیادي خبره دا ده چې زمونږ موصوف د دې افسانو لیکوال هم د پښتني خاؤرې یو زیرک لیکوال دے او زمونږ اکثرو پښتنو افسانه نګارو په خپلو افسانو کښې د پښتني روایاتو او پښتني ټولنې ترجماني کړې ده، نو زمونږ د نن شاه زلمي ګل رسول ایلم هم دغه روایت برقرار ساتلے دے ، دوي هم په خپلو افسانو کښې د خپل ژوند او ټولنې لیدلي کتلي نشیب او فراز، تجربات او مشاهدات او طبقاتي کشمکش ډېر په مؤثر انداز کښې بیان کړے دے ، د دوي افسانې د سوچه، ساهو او پښتني روایاتو نهٔ صرف زړهٔ راښکونکې ترجماني ده بلکې د دغه ټولنې ژوندي جاړن تصویرونه دي هم دغه وجه ده چې دغه اثر د دوي په افسانو غالب دے او له دغه اثره یې قیصه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



متاثره ده ځکه چې د دوي د افسانو اکثر قیصې د پښتنې رواياتو نه ډکې دي او د پښتني معاشرې سره تړلې قيصې دوي د خپلو افسانو د ملا تير ګرځولي دے ـ دا شاه زلمے په خپله خاوره بې کچه مئين دے د خپلې ټولنې د اصلاح او د اولس د educateکولو په غرض ئې قلم په ګوتو کښې نيولے دے او د دغه مقصد د حاصلولو دپاره يې د افسانې غوندې موثره ميډيم ځان دپاره غوره کړے دے ـ دا ټولې افسانې وخت په وخت زما له نظره تېرې شوې دي ځکه نو زهٔ دلته په افسانو د بحث نه ډډه کوم او نېغ په نېغه لوستونکي دې افسانو لوستو ته رابلم او بس دومره به اووايم چې

" خدا کرے زور قلم اور زیادہ "

په درناوي
واجد ودان خليل
کوزه پشتخره پېښور
۱۱ نومبر ۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غوټۍ اورژېده يؤ تاثر

کۀ نۀ وي نۀ وي نو څۀ دپاسه سل کاله ئې کېږي چې پښتو افسانې خپل سفر شروع کړے دے او ښۀ پۀ آب و تاب مخ پۀ وړاندې روانه ده او پۀ خپله لمن کښې نوې نوې مشاهدې، تجربې او فکري پراختيا رانغاړي او د پښتو ادب پۀ جولۍ کښې ئې ځايوي ـ پۀ اول اول کښې به اوږدې اوږدې افسانې ليکلے شوې چې قيصه به ئې پۀ خوند خوند د انجام پۀ لوري زغلېده بيا يؤ وخت راغے چې علامتي او تجريدي افسانې مخې ته راغلې او بيا ورپسې مختصرې او څنې ډېرې مختصرې او لنډې افسانې هم اوليکلے شوې ټولې پۀ خپل خپل ځائے ښې او د قدر وړ دي خو چې څومره خوند او مزه پۀ د افسانې پۀ قيصه ايز او بيانيه اسلوب کښې موجوده ده نو هغه خوند او مزه پۀ بله (علامتي او تجريدي) افسانه کښې نشته ـ د افسانې پۀ دې سفر کښې د ځلمو ليکوالو برخه درنه هم ده او پوره هم ده ـ

ګڼو ځلمو د خپلې مطالعې پۀ اثر کښې افسانې ليکلې دي او ښې ئې ليکلې دي کم از کم زۀ ئې د مقدار او معيار دواړو نه مطمئن يم ـ پۀ دې ځلمو کښې ښاغلے ګُل رسول ايلم هم شامل دے چې د خپلو افسانو مجموعه ئې" غوټۍ اورژېده "تياره کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ـ ما ئې ټولې افسانې ؤلوستې چې لنډې او اوږدې دواړه قسمه افسانې پکښې شته ـ کوم لوازمات چې د ادب اُستاذانو د يوې افسانې دپاره ټاکلي دي نو دې ځلمي ګُل رسول ايلم د هغې په رڼا کښې خپلې افسانې تر خپل وس پورې د معيار په تله تللې دي ـ تر ډېره حده پورې ئې کوښښ کړے دے چې بې ځايه طوالت اونۀ لري او د مطلب خبرې پۀ ډېره سوچه اسانه، عام فهمه او روزمره اسلوب کښې راغونډې کړې دي چې افسون هم لري، تجسُس هم لري او انجام ئې هم فکر ژن دے قارې پۀ حېرت کښې پرېباسي ـ

دا د ګُل رسول ايلم کتاب ټولې ټالې شل افسانې لري او زياتره وړې افسانې دي چې زمونږ ځنې ليکوالان ملګري ورته "افسانچې "وائي خو بهرحال ښۀ کوښښ دے چې د ګُل رسول ايلم صېب ارادې پخې وي او افسانې ليکلو ته ئې فکر وي نو اُمېد کېدے شي چې پۀ راروان وخت کښې د افسانې يو معتبر ليکوال اوګرځي انشاءالله ـ زۀ داد ورکووم او دُعاګو يم چې تل دې بريالے وي فکر ئې تاند غواړم ـ مننه

پروفېسر ډاکټر اسلم تاثير اپريدے

۷ اکتوبر ۲۰۲۱ء

(c) ketabton.com: The Digital Library


# شلمه صدۍ او پښتو افسانه

د ښاغلي ګل رسول ایلمؒ د افسانو ټولګه غوټۍ اوړژېده یو نظر........ لائق زاده لائق

پښتو ادب په شلمې صدۍ کښې ډېر رنګونه بدل کړۀ .د دې نه وړاندې د کلاسیکي دور نومونه په شمار دي د دې وجه دا ده چې پښتانۀ د قبائیلي شخړو سره مخ وو او د تاله واله وحدت په وجه قلم ته اوزګار نۀ وو چې چا لکه د خوشحال بابا د پلار نیکۀ د مغلو دربار نیولے وو هغوي د کتاب قلم سره اشنا وو او یا بزرګانو ، صوفیانو د خپل مسلک مطابق په توره او قلم سره د پښتو ژبې خدمت کولو -

خو شلمې صدۍ پښتو ته ډېر څۀ ورکړۀ ....... د پښتو د افسانې بابا راحت زاخیلي ........ د غزل بابا حمزه شینواري ........ لوې خیرنکار افضل رضا لوې هنر مند خیال محمد لوې استاد رفیق شینواري ....... لوي ډاکټر رحمان لوې سترګه ور صاحب زاده عبدالقیوم خان او داسې نورد شلمې صدۍ دغه لویو خلقو بیا نور لوې خلق پیدا کړۀ چا چې دا خاوره دا منطقه ډېره غني کړه.دغه شان شلمې صدۍ د خدائي خدمتګارو قربانۍ هم اولیدې او افغانستان ته د روسیانو راتګ هم ...... دې صدۍ د هاغه قام پرستو مخونه هم اولیدل چې پښتو او غېرتونه ئې ډالرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرخ کړل او د کال 1893 د معاهدې ياد ئې بيا تازه کړو .د شلمې اخري لسيزو پۀ دې خاورې لمبې بلې کړې د ګوندونو پۀ نامه ډېرو چا خپل جيبونه ډک کړۀ .چا چې پۀ ټول عمر کښې کابل نۀ وو ليدلے هغوي د پېسو پۀ خاطر اروپا ته اوتختيدل دې ټولو حلاتو د دې خاورې زهنونه او هنرونه ډېر متاثره کړۀ چې د پښتو شاعرۍ ته بغاوت راغے او افسانه سلګو اونيوه د زيتون بانو،ګل افضل خان ،ارباب رشيدعلي خان او قلندر مومند د کلاسک دور نه اوس پښتنه افسانه راوتې ده ....... اوس زيات ليکوال الميې ليکي ستاسو په لاسونو کښې د افسانو دغه ټولګه "غوټې اوږېده" هم د ځلمي ليکوال ښاغلي ګل رسول ايلمؒ د ژوند الميې دي چې د خپل عنوان پۀ غيره کښې هر څۀ کښې ئې هر څۀ خوندي کړي دي د ژوبل ژوبل لفظونو پۀ هنداره کښې د ايلمؒ تصوير واضحه جوړېږي ....... هغه يو حساس او درديدلے زړۀ لري پخپله هم د يو ازغن ژوند سره مخ دے خو د حوصلې" ايلم" دے-

د افسانو ژبه ئې ساده او روانه ده ....... هغه د خپلو ټولو افسانو کردارونه ګېر چاپيره ويني او هُم دا د يو ښۀ افسانه نګار کمال دے د ښاغلي ايلمؒ محرومې هم د هغه سره خبرې کوي خو دے د دغه محرومو نه د تختيدو لارې لټوي....... اختصار، تجسس او کلائمکس د يوې افسانې حسن دے او ايلم جان پۀ دغه راز پوهه دے-

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ پوهېږم چې پۀ راتلونکي وخت کښې به د ګل رسول ايلمؒ مشاهده سېوا کېږي او چرته چرته چې" غوټۍ رژېږي " نو ايلم جان به پرې نورې ساندې وائي.

سترګې ئې غړېږي خو څۀ نۀ وينې
داسې د ړندو پۀ ښار کښې اوسمه

لائق زاده لائق صيب
پخوانے ډايريکټر
راډيو پاکستان اسلام اباد
و پرائيويټ سيکټري وفاقي
وزارت امور کشمير
صحت،ريلويز و پاپوليشن
ويلفئيرز اسلام اباد

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګل رسول ایلم او افسانه

"غوټۍ اورژېده " د ګل رسول ایلم صېب د افسانو مجموعه ده منم چې افسانې مختصرې دي خو په تول پوره دي ـ دا ځوان فکره لیکوال ډېر معیاري لیک کوي هسې خو افسانې ډېرو لیکوالانو لیکلې دي خو افسانه لیکل د هر لیکوال د وس کار نهٔ دے ګل رسول ایلم صېب چې کومې افسانې لیکلي دي د خپل فکر مطابق ئې ډېرې ښې لیکلې دي ـ د معنې په لحاظ برابر دي د لوستونکو مینه پرې ماتیږي او مبصرین ځان پله پخپله مائله کوي اُمېد لرم چې راتلونکي وخت کښې به لیکوال نورې هُم ښهٔ معیاري افسانې لیکي۔

زهٔ پهٔ دغه زیار ګل رسول ایلم صېب ته ډېر داد او ډاډ ورکوم چې پهٔ دومره کم عمرۍ کښې ئې داسې جوت قدم پورته کړو۔ ډېره مننه

پهٔ ډېر درناوي

سلیم منور اشتنغر چارسده

۲۰ اکتوبر ۲۰۲۱ء

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ګُل رسول ایلم " غوټۍ او پڅ پېده"

پۀ داسې وخت کښې چې هر يؤ ځلمے او پېغله شاعرۍ پسې ليونۍ ده يؤ ځوان داسې هم دے چې د افسانې مېدان ته ئې را دانګلي دي ـ او د ګڼ شمېر افسانو خالق هم جوړ شوے دے ـ چې ګُل رسول ايلم ماته د خپل کتاب پۀ حقله اووئيل نو د حېرانتيا سره سره زۀ خوشحاله هم شوم ـ زما د خوشحالۍ واحد وجهه د يو ځوان د ادب پۀ مېدان کښې نثر او پۀ نثر کښې افسانه ځان د پاره ټاکل وو ـ څنګه چې ادب لويه پراخه سينه لري دغسې افسانه هم خپل ډېر رنګونه لري ـ زمونږ د افسانې پۀ تاريخ کښې زاخيلي صېب نه تر نورالامين يوسفزي صېب او د سيده بشرىٰ بېګم المعروف س ب ب نه واخله تر تاج ختټکې، زېتون بانو ، سلمىٰ شاهين پورې ګڼ شمېر افسانه نګاران مونږ وينو ـ او زما خپل مېدان نثر او پۀ نثر کښې افسانه او ناول پاتې شوي دي نو زما خوشحالي پۀ ځائے وه ـ دا پۀ خپل ځائے ډېر د وياړ مقام دے چې نثر ته اوس د ځوان کهول مخه ده ـ تحقيق، ناول، افسانه پرمختګ کوي لګيا دے او د پښتو ژبې جولۍ د قيمتي پنګو نه ډکېږي ـ او پۀ دغه پنګه کښې د غوټۍ اوړېډېده پۀ نوم يوه بله قيمتي ډالۍ واچولې شوه ـ زۀ پۀ دې زيار او کار ايلم ته مبارکي ورکوم ـ څو پورې چې د ګُل رسول ايلم د افسانو

(c) ketabton.com: The Digital Library


د معيار تعلق دے نو د يؤ ځوان پۀ حېث د هغۀ سوچ هوائي نۀ دے ـ ايلم د خپل قلم نه د هغۀ د فکر او سوچ دردونه د معاشرې ځيني ناولي اړخونه، څۀ تراخه حقيقتونه پۀ ډاګه کړي دي ـ هغه د خپلې ټولنې دغه اړخونه پۀ ګوته کوي هم او لوستونکے ځان سره د کردارونو د تګ پۀ لار بوځي هم ـ زما پۀ خيال د يؤ ليکونکي دا غټه کاميابي وي او پۀ دغې کښې ګُل رسول ايلم کامياب شوے دے ـ

زۀ پۀ دے ښکُلي کتاب دے ځوان ته مبارکي هم ورکوم او دا هيله لرم چې د افسانې دا سفر به خپل منطقي انجام ته ارو مرو رسوي ـ د وخت او عمر سره انسان کښې عقل راځي ، شعور پخېږي او د ليک توان زياتېږي ـ پۀ نظر کښې وسعت پېدا کېږي او سوچ فراخه کېږي نو زۀ دا پهٔ يقين سره وئيلے شم چې د دې ځوان سبا به روښانه وي خو کۀ دے خپل ليک هم داسې جاري اوساتي ـ زما دعا د ګُل رسول ايلم سره ده قلم دې ئې دغسې روان اوسي امين ـ

پۀ درناوي
محترمه کلثوم زيب
پېښور
نېټه: ۱۰ اکتوبر ۲۰۲۱ء

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دا قيصې

د ښاغلي ګل رسول ايلم دا قيصې د هغۀ د خيال او فکر هغه ژوندي انځورونه دي چې هم د هغۀ په مشاهده اړانه دي او هم ئې د يو قلمکار په حېث د ارمان هېندارې دي پۀ دې قيصو کښې به فني کمے هم وي د ژبې د صحت ستونزه به هم لري خو د ښاغلي ګل رسول ايلم جذبه او فکر دواړه ډېر سپېځلي دي هغه د خپلو ارمانونو غوټۍ ګُل کېدل غواړي خو د وخت او حالاتو تورابان ئې دغه تمّنا پوره کېدو ته نۀ پرېږدي ځکه ئې پۀ فکر او خيال د مايوسۍ يو تهوک ځادر خور دے کۀ ښاغلي ايلم جان خپل دا جانانه سفر جاري اوساتۀ نو د افسانې جراثيم لري او په راتلونکي وخت کښې به ئې افسانې ،،غوټۍ،، د رژېدو پۀ ځائے ارو مرو ګُل شي د ده د ښۀ فني ژوند لپاره لاس په دعا

نورالامين يوسفزے
اسلاميه کالج پوهنتون پښتو
څانګه پېښور
يکم نومبر2021

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ایلم جان لنډه پېژندګلو او افسانې

لکه څنګه چې د سوات دیر او ملاکنډ وادي ښائسته ده هم دغه رنګ ئې د اولس زړونه او د شاعرانو ادیبانو فکرونه ښائسته دي ـ ایلم جان چې خپل نوم ئې ګل رسول خان دے د خُدائے بخښلي محمد رسول خان پۀ کور کښې پۀ ۱۹۹۳ء کښې ځېږېدلے دے د دوشخېل قام د ستريې ښانګې دورانخېل سره تعلق لري ـ ښاغلے ایلم جان د دوشخېل خادګزي د ډډې د کندي او د مشهور غر دیولئ پۀ ښائسته او مشهور کلي بخت بلنده کښې سترګې غړولي دي ـ ایلم جان د دیر د ښائسته خاورې بچے دے دا تعلیم یافته ځوان د قام او اولس درد پۀ سینه لري او د قلم پۀ ژبه د خپلو خیالاتو سرګندونه کوي ـ ایلم صېب د سکول د وختو نه شاعري کوي او وخت پۀ وخت ورسره پۀ ادبي محفلونو او غم ښادئ کښې ملاقاتونه کېږي نن صبا د رزق د تلاش پۀ سلسله کښې پۀ فرنټیرکور دیر سکاؤټس کښې د پېغام رسانۍ پۀ ښانګه کښې خپله وضیفه یعني خپل فرائض ترسره کوي ـ پۀ نظم او نثر دواړو کښې د فکر نیلے زغلوي جذبې ئې ځواني دي کۀ د ادب سفر ئې هم دغسې جاري اوساتلو نو ممکنه ده چې لوړ مقام ترلاسه کولے شي ـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د ایلم افسانې:** افسانه چې د هرې ژبې په ادب کښې یو لوړ او ځانګړے مقام لري په انګریزۍ ژبه کښې ورته Short Story یعنې لنډه قیصه وئیلے شي ـ دې ته خیالي فکري یا فرضي قیصه هم وئیلے شي دا په یو نشت کښې قاري لوستے شي دا د داستان او ناول په مقابله کښې ډېره مختصره وي دغه شان مونږ افسانې ته د قیصې یو طرقي یافته شکل هم وئیلے شو په پښتو ادب کښې ورمبۍ افسانه" کونډه جینۍ "راحت زخیلي لیکلې وه ځکه خو راحت زخیلي صېب د افسانې امام ګڼلے شي ـ شاعران او ادیبان کۀ یو طرف ته د معاشرې او ماحول بچې دي نو بل طرف ته معاشره او چاپېریال د شاعر او ادیب دپاره د استاذ حثېت لري یو شاعر او ادیب د خپل چاپېرچل نه اثر اخلي او متاثره کېږي ـ په روانو حالاتو د قلم په ژبه د خپلو احساساتو جذباتو په ښائسته ډول سرګندونه کوي او اولس ته د بدلون امن مینې او ورورولۍ یو ښکُلے پېغام ورکوي ـ اوس راځو د ایلم جان کتاب" غوټۍ اورژېده "طرف ته.

ایلم جان چې سحر د کوټې ور بیئرته کړي نو د سوات په حسینه وادۍ کښې د ایلم په مشهور غر نمر سترګه وهلې وي او د رڼا پلوشې ئې د ایلم صېب د کوټې ګوټونه روښانه کوي ـ دا پلوشې د دۀ ژوند له حرارت ورکوي ایلم صېب د ایلم د غر نه هم متاثره دے او د نمر د ځلاندو وړانګو پلوشو نه هم ـ دے هم د ایلم د وژود نه د قلم په ذریعه د اولس زړونو او ذهنونو ته رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library


رسؤل غـواړي ـ ايلـم صـېب پۀ خپـل دې کتـاب" غـوټۍ اورژېـده "چې د افسـانو يـوه ښـکُلې مجموعـه ده دا کتـاب پۀ شلو افسـانو او پۀ يوسـل او دولـس مخونـو مشـتميل دے د دې کتـاب ټولې افسـانې پۀ لوسـتونکې ښـۀ اثر پريباسـي ژبـه ئې سوچه او کلېوالـه ده پۀ دې يؤ ښائسـته کلېـوال رنګ غالـب دے ځـائے پۀ ځـائے پکښـې متلونو او شعرونه د قېصـو رنـګ يـو پـۀ دوه زيـات کـړے دے د افسـانو کردارونـه پلاټونـه د قيصـۍ سره سمون خوري ـ ايلـم صـېب د افراتفـرئ پۀ دې دور کښـې وس هـم پۀ داسـې فطري مـاحول کښـې ژوند کـوي چرتـه چې چينـه چينـار وس هـم موجـود دي چرتـه چې د ګډو بيزو کنډک او د شپونکي د شپېلۍ او د يکه زار ياقربـان آوازونـه وس هـم اورېـدے شي ـ د ايلـم صـېب پۀ چاپېرچـل کښـې پۀ ګټـه ناست مشران د نـوابي رياسـتي دور قيصـې کـوي چې کشـران ئې پۀ تعجب اوري او پۀ دې حقيقي قيصـو د افسـانو ګُمـان کـوي د مـاحول اثر پۀ انسـان ارو مـرو کېږي او دغـه وجـه ده چې ايلـم صـېب د قلم پۀ څوکه د خپـل چاپېرچل ترجمـانې او عکاسـي د افسـانو پۀ دې مجموعـه کښـې پۀ ښـۀ ډول کړې ده هسـې خو ټول کتـاب د معيـار پۀ تـول پـوره دے خـو" تـش لاس ، دوه بجـې ، حـوالات ، چغـې او غـوټۍ اورژېـده "غـوره افسـانې دي دا د ايلـم صـېب اولنـے کوښـښ دے کمـے بيشـے بـه پکښـې خامخـه وي خـو هيلـه لـرم چې راروان انتخـاب کتـاب بـه ئې نـور هـم ښـۀ او پۀ معيـار پـوره وي دا جاج بـه وس تاسـو اخلـۍ چې ښـاغلي د خپـل قلـم او موضـوعاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره څومره انصاف کړے دے هيله لرم چې ايلم جان به پۀ ادب کښې خپل سفر جاري ساتي او د پښتو د ادب جولۍ ته به داسې ښائسته ګلونه وار پۀ وار ډالۍ کوي.

پۀ درناوي ستاسو ورور
جهان بخت خان جهان
خادګزئ کاغان
۱۲ نومبر ۲۰۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خبرې خپلې

ګرانو دوستانو خبرې خو د دې کتاب ټولې افسانې زما خبرې دي خو د روایاتو ترمخه زۀ به دا اووايم چې دا کتاب "غوټۍ اورژېده " زما د افسانو ړومبنے کتاب دے ـ هسې خو افسانه ليکل ډېر ګران کار دے پته نشته چې زما افسانې د افسانې پۀ تول پوره دي او کنه دغه فېصله به پوهانو ته پرېږدم خو چې څۀ مې هم ليکلي دي نو د خپل چاپېريال کړۀ وړۀ او ښۀ بد مې د قلم ژبې ته سپارلي دي د چا به خوښېږي يا نۀ خو زۀ به ملګرو ته دا خبره وړاندې کړم چې زۀ پۀ افسانه کله او څنګه پوهه شوم ـ

نثري ليکل خو به ما د ډېر وړاندې نه کول زۀ د لسم ټولګي سټوډنټ ووم چې داسې څۀ واقعات او خيالات به مې ذهن ته راتلل نو د خپل ځان سره به مې محفوظ کول ، خو نۀ پوهېدم چې زۀ افسانه ليکم او کۀ قيصه يا کۀ څۀ بل څۀ خو چې د کله نه مې خپل ليکونه " لائق زاده لائق " صېب ته وړاندې کړل نو هغۀ پۀ ډېر اخلاص سره زما اصلاح اوکړه او وخت پۀ وخت به ئې د افسانې پۀ قوائدو او اصولو پوهه کولم ـ نن کۀ زۀ افسانه ليکم يا ښۀ او نا ښۀ ليک پېژنم نو دا د محترم لائق زاده لائق صېب د اخلاص او د هغۀ د محنت برکت دے چې زۀ ئې دې مقام ته راورسولم او نن د

(c) ketabton.com: The Digital Library


افسانو د یو کتاب خالق شوم زۀ کۀ د لائق صیب هر ځومره مننه ادا کړم نو کمه به وي ولې چې د لائق زاده لائق صیب مصروفیات دومره دي چې هغه د چا نه پټ نۀ دي او د هغې باوجود هغۀ زما لپاره خپل ځان کړولے دے او هغه ماته پته ده چې لائق صیب ځومره اخلاص زما سره کړے دے ولې چې یوه شپه د شپې دوه بجې وي او لائق صیب د اسلام اباد نه ستړے ستومانه کور ته راغلے وو او چې واټسپ ئې کتلے وو نو زما لیکونه ورته پۀ سر پراتۀ وو او هغۀ زما هغه لیکونه کتلي وو او ماته ئې جواب پرېخښودے وو او چې سحر ما واټسپ خلاص کړو او د لائق صیب راکړے شوے جواب مې اوکتلو نو یقین اوکړه چې ډېر خفه هم شوم چې تۀ اوګوره لائق صیب څۀ خو وس کمزورے شوے هم دے لاړو سپین ګیرے شو او څۀ دومره مصروفیات لري چې سحر د کوره وځي نو د شپې ناوخته کور ته راځي او کله کله خو دوه درې ورځې هډو کور ته هم را نۀ شي خو بیا ئې هم د شپې پۀ دوه بجې زما لیکونه کتلي وو او جواب ئې راکړے وُ۔

ډېره ډېره مننه ئې کوم خدائے پاک دې لائق زاده لائق صیب له ډېر عمر ورکړي او سره د ډېرو خوشحالو ئې روغه ګرګه نصیب شه ، زړۀ مې غواړي چې د لائق صیب ټول اخلاص بیان کړم خو د لائق صیب اخلاص او محنت زما سره دومره دے چې دا ځانله یوه موضوع ده ملګري بور کول نۀ غواړم ولې چې بیا به دا ځانله یو کتاب شي او پۀ دغه موضوع به کۀ خبر وي بل وخت چرته

(c) ketabton.com: The Digital Library


پوره بحث کووم ولې چې د لائق صېب دغه اخلاص پهٔ لیک کښې خوندي کول زما لپاره دا ډېر اهم دي ـ دغه شان د واجد ودان خلیل صېب هم ډېره زیاته مننه کووم ولې چې کهٔ زهٔ د خپلو اوستاذانو خبره کوم نو د لائق صېب نه پس به د ټولو نه اول نامه د واجد ودان خلیل صېب نامه اخلم ـ واجد ودان خلیل صېب هم تر ډېره حده زما هر لیک کتلے او راته ئې د لیک د سمولو پوره پوره طریقه کار ښودلے دے ـ او دغه رنګ د ګرانو محترمو ښاغلیو پروفېسر اسلم تاثر اپریدي صېب، پروفېسر حنیف خلیل صېب ، نورالامین یوسفزئ صېب ، لائق ذاده لائق صېب ، واجد ودان خلیل صېب ، جهان بخت خان جهان صېب ، سلیم منور صېب او د ډېرې ګرانې محترمې کلثم زېب مېم ډېره مننه کوم چې زما پهٔ دې معمولې شان کتاب ئې خپل قیمتي لیکونه اوکړل ـ

ګرانو دوستانو دا زما کتاب" غوټۍ اوړژېده "ټولې شل افسانې دي او دا ټولې افسانې پوره د یو کال ذخیره ده مطلب دا شل افسانې ما تقریباً پهٔ یؤ کال کښې لیکلي دي ـ کهٔ رب ته منظره وه او ژوند ؤ نو بل د افسانو کتاب به هم ډېر زر چاپ کووم او کهٔ پهٔ دې کتاب کښې مې څهٔ کمے بېشے وي نو ډېره بخښنه غواړم ډېره مننه وسلام ـ

پهٔ ډېر درناوي

ګل رسول ایلمؔ

کوز دیر خادګزو بخت بلنده

(c) ketabton.com: The Digital Library


۰۲ اکتوبر ۲۰۲۱ء

# نیمګړې ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library


# نیمګړی ارمان

شبنم سمه خوشحاله وه د همزولو په مېنځ کښې سرۀ لاسونه د وادۀ په سره جوړه کښې لکه د ښاپېرۍ ښکُلې سینګار شوې ناسته وه کله به ئې یوې همزولې او کله بلې همزولې ته کتل مُسکی مُسکی کېدله شرمېدله سر ئې خکته کړے ؤ، د ډېرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نۀ ځائېده او د ځان سره به ئې پټ په زړۀ کښې بار بار داسې وئیل چې

" شکر دے خدایه شکر "

او اسمان طرف ته به ئې په سترګو کښې اوکتل او بیا به ئې زر سترګې خکته کړې او داسې موډ به ئې جوړ کړو چې لکه یقین ئې نۀ راتلو او خپل ځان ته وائې چې

" زۀ خوب خو نۀ وینم زۀ او ناوېتوب؟"

او بیا به زر مُسکی غوندې شوه او د طبیعت نه به ئې داسې محسوسه شوه چې ګنې د هغې وس یقین راغلو او خپل ځان ته ئې اوئیل چې

" نا نا بلکل رېښتیا دي خوب خوب نشته دا هم هغه ورځ ده د کومې ورځ چې ما او وصال خان ارمانونه کول "

(c) ketabton.com: The Digital Library


شبنم په دغې سوچونو فکرونو کښې ډوبه وه په زړۀ زړۀ کښې د خپل ځان سره لګیا وه رنګا رنګ خبرې به ئې کولې هغې ته ټوله دنیا مسته او رنګینه ښکاریده د هغې ټولې همزولې د هغې په تیارئ کښې بوښت وې ټولې د شبنم نه چار چاپیره راتاؤ شوې وې چا به ورله شال سمولو چا ټیکه او چا به ورله والۍ کله کله خو به پکښې یوې نیمې جینۍ اواز هم اوکړو چې

" یۀ جینکو ناوې تیاره شوه کنه "

او چا به وئیل چې

" یۀ جینۍ تۀ لړه دې خوا شه چې زۀ هم لږه ناوې اوینم کنه "

شبنم په ناوېتوب کښې ډېره حسینه ښکاریده یؤ خوا کۀ هغه قدرتي ښکُلې وه نو بل خوا د ناوېتوب سینګار ئې ښکُلا یو په دوه کړې وه بلخوا د هغې د زړۀ هغه ارمان پوره کېدو د کوم ارمان چې هغې د پینځو کالو راهسې انتظار کولو د هغې د ژوند د دغې ارمان تړون د نور زمین خان کاکا د زوي وصال خان سره پوره پینځۀ کاله وړاندې شوے ؤ خو د هغې د ماشومتوب لۀ کبله د شبنم پلار محمد جان کاکا د وادۀ نېټه پوره پینځۀ کاله غزولې وه پینځۀ کاله څۀ چې د شبنم او وصال خان دپاره پینځۀ سوه کاله وو هر څو کۀ شبنم وړه وه او په زړۀ کښې ئې د هیڅا دپاره هم لا څۀ ځائے نۀ ؤ پیدا شوے خو دومره ضرور پوهېده چې زۀ وس په دې کور کښې د وصال خان امانت یم او د کله نه چې شبنم د وصال خان په نوم شوه نو د شبنم په زړۀ کښې د وصال خان مینې سر پورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو او د شبنم مینه د وصال خان سره ورځ تر ورځ په زیاتېدو شوه شبنم به هر وخت هم په دې سوچونو فکرونو کښې ډوبه ناسته وه چې کله به دغه ورځ راځي چې زهٔ به د وصال خان تر څنګه ناسته يم او کله کله خو به ئې دا خبره هم د ځان سره کوله چې

" هن........پینځهٔ کاله دا به څنګه تېرېږي.......ډېره ګرانه ده.......دا دومره انتظار ...... دا انتظار خو به ما اوخوري "

تر دې چې شبنم د وصال خان د وصال سوچونو فکرونو کښې پوره پینځهٔ کاله انتظار تېر کړل او هغه ورځ وه چې د شبنم او د وصال خان زړونه به يو ځائې کېدل جنجيان راغلي وو يؤ خوا بل خوا شور شغرب جوړ ؤ جونو د ټنګ ټکور خپلو کښې محفلونه ګرم کړي وو شبنم د همزولو په مېنځ کښې داسې ښکارېدله لکه د ستورو په مینځ کښې چې د ځوار لسمي سپوږمۍ ځلېږي يؤ خوا کهٔ شبنم د خپل مور پلار او خوېندو ورونړو نه په جدائۍ درد بدله او پرېشانه وه نو بلخوا ئې د ارمان پوره کېدو په خوشحالۍ کښې لهٔ خپله ځانه ورکه وه او په دې طمع وه چې د وصال ديدن به کووم ولې چې پینځهٔ کاله ئې د وصال د وصال خوبونه ليدلي وو او د جدائۍ لمبو ئې د زړهٔ محلونه غرغنډه کړي وو جنجيان تيار شول شبنم د پلار په اوږه او د مور په غېږه کښې د جدائۍ رنړې اوښکې توي کړې رخصت واخستهٔ شو او شبنم په سپين موټر کښې کېښناسته خو د کلي د رواياتو خلاف شبنم د وصال خان سره د موټر په فرنټ سيټ کښې کېښناسته.......ګاډي روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــول.........کافي اوږده لاره وه شــبنم بــه پــهٔ ســترګو ســترګو کښــې وصـال خـان تـه کتـل او وصـال خـان بـه مُسـکے شـو او دغـه رنـګ د شـبنم پـهٔ مـخ بانـدې بـه مُسـکا خـوره شـوه د شـبنم پـهٔ زړهٔ کښـې بـه دغـې رنـګ مُسـکا نـاقراري وړ، لېونتـوب او د جـذبو تـودولے پيـدا کولـو وصـال خـان او شبنم بـه کلـه کلـه د ګـاډي پـهٔ شيشـه کښـې هـم يـؤ بـل تـه کتـل او يـؤ بـل تـه پـهٔ کتـو سره بـه مُسـکي شـول چـې پـهٔ دغـې مُسـکا کښـې د دواړو ډيـرې خبـرې پټـې وې وصـال خـان چـې بـه مـوټړ لـړ شـان اوزغلولـو نـو شـبنم بـه اوويرېـده او پـهٔ دغـې ويـره کښـې چـې بـه د شـبنم پـهٔ مـخ کـوم رنګونـه بـدل شـو نـو پـهٔ وصـال خـان بـه دغـه رنګونـه ډيـر ښـهٔ او خـوارۀ لګيـدهٔ وصـال خـان بـه ګـاډے نـور هـم اوزغلولـو او ورسـره ورسـره بـه ئـې د ګـاډي پـهٔ شيشـه کښـې د شـبنم د مـخ رنګونـه هـم لوسـتل او چـې څـومره بـه د شـبنم پـهٔ مـخ د ويـرې رنګونـه سـېوا کيـدل نـو دومـره بـه وصـال خـان خوشـحالېدلو هغـه لـه بـه دغـې رنګونـو ډيـر خونـد ورکولـو ځکـه د هغـه هـم دا کوشـش ؤ چـې شـبنم څـومره ويـرولے شي نو چې وۀ ئې ويروي-

خـو دغـه ويـره هغـه وخـت هـم ويـره پـاتې شـوه چـې وصـال خـان د ګاډي پـهٔ شيشـه کښـې د شـبنم پـهٔ تماشـه ؤ او پـهٔ ځـان پوهـه نـهٔ شـو او د هغـه نـهٔ وړانـدې د يـؤ ګـاډي سـره پـهٔ درز خپـل ګـاډے اولګولـو دغـه درز ټولـو خلکـو واؤرېـدو ټولـو خلکـو رامنـډې کـړې د وصـال خـان سره چـې پـهٔ مـوټړ کښـې شـاته کـومې ښـځې ناسـتې وې هغـوې چغـې ويـر مـاتم جـوړ کـړو چـې پـهٔ دغـې سـره ډيـر خلـک د ګـاډي خوالـه نـزدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغلـۀ د وصـال خـان پـلار هـم راورسـېدو د ګـاډي فرنـټ سـائيډ ټـول تبـاه شـوے وو د وصـال خـان پـلار چـې اوکتـل نـو د شـبنم سـر د وصـال خـان پۀ غېږه کښې پروت ؤ او پۀ سره سور شـال کښـې ئې پۀ خُلـۀ سـره وينـه راغلـې وه او د وصـال خـان ځـواني د ګـاډي د سـټېرنګ د لاسـه پـۀ اوږد سـفر تلـې وه د هـر سـړي پـۀ مـخ بانـدې پرېشـاني خـوره وه چـا اوښکې تويولې او چا به دغې حادثې ته حېران حېران کتل.

د وصـال خـان پـلار چـې د شـبنم د مـخ نـه وينـه پاکولـه نـو هغـه تـه داسې محسوسېدله لکه چې هغه ورته وائي چې

پښـــتنه يـــم مـــا د مينـــې پـــت پـــالللے
کـۀ د يـار پـۀ غېـږ کښـې مـړه شـمه مـړه نـۀ يـم

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حوالات

(c) ketabton.com: The Digital Library


## حوالات

جمالي چې به د پوره یوې میاشتې دیارې تر لاسه کړه نو په خوشحالۍ خوشحالۍ به ئې کور ته د راشن ډکې بورۍ راخستې وې او د جمالي د رویې نه به داسې محسوسېده چې د جمالي هېڅ کمے نۀ ؤ او د هغۀ ژوند په خپله دیارۍ مزدورۍ کښې ډېر ښۀ او په سکون روان ؤ او دغه شان په عام اولس کښې هم چې به جمالي د چا سره په لار کوڅه کښې ملاقات کولو نو په ډېر احترام مینه او خوشحالۍ به ئې ورسره سترې مشې خوار مشې کول او د بعضې زړۀ ته راتېرو یارانو سره به ئې داسې ملګرتیا وه چې یارانو دوستانو ته به ئې دا احساس هډو کېدو هم نۀ چې ګینې جمالے یؤ غریب مزدور سړے ؤ او هره ورځ به ئې یؤ نه یؤ ملګرے خامخا د لاس نیولے په خپله غریب خانه کښې مېلمه کولو.

خو څۀ موده کېدله چې جمالي به په سمه خُلۀ د چا سره خبرې هم نۀ کولې او نۀ یې په مخ د خوشحالۍ څۀ اثار ښکارېدل او دغه شان چې جمالے به مابښام سترے ستومانه د مزدورۍ د ځائے نه کور ته راتللو نو په ډېر لوئے سوچ فکر کښې به اخته ؤ او دومره به په خپلو غمونو سوچونو کښې ډوب ؤ چې چا به وربانديې سلام هم

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوکړو نو هڅو به خبر نهٔ شو چې ګینې چا لا سلام هم اوکړو او دغه رنګ ئې ټول ملګري هم پهٔ دې فکر و غم کښې مبتلا کړي وو چې اخر داسې څهٔ شوي دي چې جمالے هڅو پهٔ چا څهٔ کار غرض نهٔ لري او ټوله ورځ خفه دلګیر خپلې ګوټې شماري۔

د جمالي یارانو دوستانو غوښتل چې د جمالي نه اوپوښتي چې "داسې څهٔ مسله ده چې جمالے ئې پهٔ داسې لوئے ټېنشن او غم کښې اخته کړے دے"

خو بل خوا د کرونا وبا پهٔ ګرده نړۍ کښې داسې وحشت خور کړے ؤ چې د خلکو پهٔ مېنځ کښې ئې د بېلتانهٔ غرونه اودرولي وو او سخت لاک ډاون لګېدلے ؤ او څهٔ خو د هر سړي د ژوند مصروفیات داسې وو چې د چا سره هم د چا لپاره وخت نهٔ ؤ څهٔ موده پس چې د کرونا وبا لږه د خلکو د ذهنونو نه پهٔ وتو شوه او د کلي علاقې بازارونه کولاوېدل شروع شو نو د کلي پهٔ هائي سکول کښې د جمالي د پارټۍ غټه جلسه منعقد کړے شوه چې پکښې د پارټۍ غټ مشران راتلل د جمالي دلې کلي ته اول ځل ؤ۔

او دغه شان د کلي علاقې ټول خلک پهٔ جوش و خروش سره جلسې ته راجمع شوي وو ټولو لویو او وړو به د زنده اباد نعرې وهلې ولې چې څوک د خپل زوي د نوکرۍ پهٔ طمع وو او څوک د خپل ورور د بدلۍ او څوک خو پهٔ دې طمع وو چې کهٔ یو بنډل پائپ راته مېلاؤ شي خو چې جمالي به د کلي د خلکو د زنده اباد نعرو او د لاسونو پرقه ته کتل نو د خپل کلي ورانې کوڅې، ناروا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوډشېډنګ او خصوصي طور ګرانه ګراني به ئې مخې ته نېغه اودرېدله او هغه به دا سوچ کولو چې دا څنګه خلک دي چې پهٔ دې حال کښې هم د زنده اباد چغې وهي او بيا چې پهٔ ستېج ولاړ سړي به څهٔ خبره نيمه اوکړه نو ګبر چاپېره به د لاسونو پړقا او د زنده اباد چغو پهٔ تول کلي کښې انګازې خورې ورې کړې او چې پهٔ ستېج ولاړ سړي به د غټو غټو وعدو سره سره د خپل حکومت صفتونه او تېرو شوو حکومتونو غيبتونه کول نو نور به هم خلک پهٔ جوش او مستۍ کښې راغلل خو پهٔ ټولو خلکو کښې يؤ جمالے ؤ چې بالکل خاموشه ؤ چې نهٔ به ئې د زنده اباد نعرې وهلې او نهٔ به ئې لاسونه پرقول خو ګبر چاپېره به ئې خلکو ته حېران حېران کتل ـ د جمالي پهٔ دغې خاموشۍ باندې د هر چا نظر ؤ او بيا چې د پارټۍ کوم واکداران وو هغوي ټولو د يؤ بل سره ګنګوسې کولې چې

"دا سړے ولې داسې خاموشه دے او بيا پهٔ داسې موقع چې د پارټۍ لوئے لوئے ليډران راغلي دي او بيا د داسې سړي خاموشي چې هم د دې پارټۍ يؤ خاص غړے دے خو چې ولې نهٔ لاس پړقوي او نهٔ د زنده اباد نعرې وهي"

خو څهٔ ساعت پس چې پهٔ ستېج ولاړ سړي خپلې خبرې بس کړې او د ستېج سيکټري ستېج ته راپاسېدو نو جمالے بيا ستېج ته ورسېدلے ؤ او د غه شان جمالے د سيکټري نه پهٔ مائک ورمخکښې شوے ؤ جمالي پهٔ ستېج لګېدلي لاؤډ سپيکر ته پوکے

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکړو خپل پۀ اوږه راچولے شکلے يې پۀ خپل مخ داسې اووهلو لکه چې خپلې خولې ئې پرې اوچې کړې او بيا ئې پۀ اوږه راواچولو۔

جمالي د خپلو خبرو ابتداء پۀ بسم الله سره اوکړه چې د جمالي پۀ دې عمل د جلسې ټول خلک چُپ چاپ حق دق او حېران حېران وو او د هر سړي پۀ زړۀ کښې دا سوال تاوېدلو چې خدائے خبر چې جمالے بـه لاڅۀ خبره کوي خو جمالي چې وړومبنۍ خبره د تېر حکومت د نرخونو او بيا د موجوده نرخونو اوکړه او بيا ئې د موجوده حکومت هره يوه بې ايماني ټولو خلکو تـه پۀ ګوتـه کړه او ټولې ئې سپينې سپينې خبرې اوکړې نو د پارټۍ د زنده اباد نعرې پۀ "جمالے زنده اباد" نعررو کښې داسې بدلې شوې لکه چې جلسه د جمالي دپاره راجوړه کړے شوې وه خو چې جلسه ختمه شوه او ټول خلک پۀ خپله مخه خپلو خپلو کورونو تـه لاړل او چې سبا د کلي خلک خبرېدل نو جمالے د نزدې تهانې پۀ حوالات کښې بنديوان کړے شوے ؤ۔

******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دوه بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لوه بڅې

طوطي ګل کاکا جُرابې یؤ خوا ته کېښودې بوټان ئې د انګیټهۍ سره جوښت یؤ بورجي ته نېغ اودرول د انګیټهۍ دروازه ئې خلاصه کړه او یوه شونټهۍ ئې ورکېښوده.

"هائ هائ څۀ ښکُلے وخت ؤ لاړه ځواني تېره شوه"

"ژوند هم لکه د باد تېرېږي"

طوطي ګل کاکا د دې خبرې کولو سره پۀ سپینه ګیره لاس راښکودو غاړه ئې تازه کړه او لکه د نور کله پشان ئې بیا د خپلې ځوانۍ او د خپل دور قیصې شروع کړې.

"زما د ځوانۍ خو بیل دوران ؤ خو وس لاړم سپین ګیرے شوم "

"هسې پۀ ځوانۍ کښې انسان ډېر پۀ طاقت کښې وي"

" او اوس"

"اوس خو د چا خبره چې د اودس ماتي لوټه هم پۀ لاس کښې نۀ شم اوچتولے لاړم عمر خوړلے شوم زور مې کښېناستو دا اوګوره د دې کوټې دا بش ما پۀ ایکي یوازې د ایلم د غر نه راوړے ؤ"

" څۀ به اووایو نو"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"نن سبا ځوانان خو چاته بالخت هم نۀ شي سمولے او دا خو څۀ کوي چې نۀ حُجره پېژني او نۀ جومات د چا سره ناسته پاسته غم ښادي هم نۀ پالي اوس هغه اتفاق هم نشته هر سړے د ځان شوے دے تر دې پورې چې مينې محبت ورسره هم سر خوړلے دے"

د طوطي ګل کاکا قيصې به تر نيمې نيمې شپې د کور ټولو خلکو پۀ ډېر غور او پۀ ډېره مينه اؤريدلې ۔او د ګاونډ خلک ئې هم ټول د خپلو خوږو خوږو قيصو مئينان کړي وو هره شپه به د طوطي ګل کاکا ګاونډيان پۀ ډېره مينه او شوق د طوطي ګل کاکا خوا له راتلل زۀ هم د طوطي ګل کاکا د ګپ شپ عاشق ووم ما به هم د طوطي ګل کاکا نه بلا خبرې او بلا قيصې اوريدلې زما به د طوطي ګل کاکا متلونه ډېر خوښېدل وس هم راته د هغۀ زيات متلونه ياد دي۔

د طوطي ګل کاکا د ټولو نه ښۀ خاصيت دا هم ؤ چې د متلونو قيصې به ورته هم يادې وې اکثر چې به طوطي ګل کاکا کوم يؤ متل اووئيلو نو ما به ترې ضرور پوښتل چې د دې متل پۀ شا څۀ قيصه وه او طوطي ګل کاکا به راته ډېره پۀ تفصيل سره بيانوله او چې د طوطي ګل کاکا نه به چا د څۀ قيصې يا د پخواني دور، دود دستور پوښتنه اوکړه نو ډېر زيات به خوشحالېدلو د طوطي ګل کاکا ټول کړۀ وړۀ د ستائينې وړ وو ولې چې الله تعالیٰ طوطي ګل کاکا يؤ داسې خوږ انسان پيدا کړے ؤ چې انسان خو څۀ چې مېږے ئې هم چرته نۀ ؤ ازار کړے عموماً به ئې د خلکو زړونو له

(c) ketabton.com: The Digital Library


خوشحالۍ ورکولې کۀ طوطي ګل کاکا ته به چا کنځل یا بله څۀ ترخه خبره هم اوکړه نو پۀ خندا به ئې بدلوله او ترخې خبرې کوونکے یا کنځل کوونکے خو به ئې پۀ خپل ځان او پۀ خپله خبره پښېمانه کولو.

زۀ چې به د طوطي ګل کاکا خوا له لاړم نو کوشش به مې دا ؤ چې د عامو قېصو، خبرو اترو نه علاوه د یو متل پۀ شا یوه قیصه راته هم ضرور بیان کړي یؤ خوا کۀ زۀ د طوطي ګل کاکا ګاونډې ووم نو بل خوا به مې د طوطي ګل کاکا سره ناسته پاسته هم ډېره کوله او دغه شان بلا پوښتنې به مې ترې کولې.

دغه وجه وه چې د طوطي ګل کاکا زۀ ډېر خوښ ووم .ماته به ئې د ډېرې مینې نه د پښتو پتنګ وئیلو یوه ورځ ماښامے ؤ او د جنورۍ میاشت وه نرۍ نرۍ واؤره هم راوریدله سخته یخني وه خو د طوطي ګل کاکا قېصې، خبرې او متلونه اوریدل به مې پۀ هېڅ حال کښې هم نۀ قضا کول پۀ دغه یخه شپه د طوطي ګل کاکا خوا له ورغلم دروازه مې وډبوله طوطي ګل کاکا اواز راکړو.

"څوک ئې"

ما جواب ورکړو.

"هن..... کاکا زۀ یمه فلانکے"

هغه د دننه د راتلو اجازت راکړو پۀ دروازه د ورننوتلو سره طوطي ګل کاکا د متلونو لړۍ راوسپړدله او دا متل ئې اوئیلو چې

" خمبه لمبه تمبه وي " نو ورک شه غمونه پرېږده چې ورېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


ما خپل څادر له ځنې ورکړو واؤره مې د خپل ځان نه اوځنډله او د طوطي ګل کاکا سره مې سترې مشي خوار مشي اوکړل.

طوطي ګل کاکا؟.

"خمبه لمبه تمبه" څۀ مطلب ؟"

طوطي ګل کاکا پۀ برق برق پۀ خندا شو.

"بچې دا ډېر پخوانے متل دے"

"مونږ چې ځوانان وو نو زمونږ مشرانو به دا متل مونږ ته پۀ داسې موقعه وئيلو چې واؤرې به وريدې او مونږ ټول به د چرګې نه ګېر چاپېره ناست وو . نو دا متل به ئې کولو چې خمبه، لمبه، تمبه وي نو کۀ پوره شل ورځې واؤرې وريږي نو پروا نشته خو کۀ پۀ دې درې واړه کښې يؤ هم نۀ وي نو بيا ژوند ډېر ګران شي ولې چې دا دوه مياشتې ډېرې سختې د يخنۍ مياشتې دي دې مياشت ته سپينه ځله وائي او پۀ دې پسې دوېمې مياشتې ته توره ځله وائي پۀ دې دواړو مياشتو کښې ډېره زياته واؤره وريږي . پۀ دې وخت کښې هغه سړے نر وي چې دې دواړو مياشتو ته ئې ښۀ ځان تيار کړے وي دا مياشتې چې شروع شي نو نۀ خو بيا څوک د لرګي بندوبست کولے شي نۀ دوکان بازار ته د تلو بندوبست او نۀ ابادي جوړولے شي"

"مطلب دا چې يو کار هم نۀ کېږي سېوا د خورو څکو نه"

مونږ ټول د طوطي ګل کاکا خبرو ته غوږ غوږ وو طوطي ګل کاکا ډېر پۀ تفصيل سره د متل وضاحت اوکړو پوره تر نيمې شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library


مـو بنـۀ ګـپ شـپ او د مـزې قيصـې واؤريـدې اخـره كښـې طـوطي ګـل كاكا مونږ ته پۀ خندا خندا كښې اووې چې

"هلكه"

"صبا له به خامخا راځې"

مـا بـه لاځـۀ خبـره كولـه چـې طـوطي ګـل كاكـا خپلـه خبـره جـاري اوساتله.

"صـبا د ورځـې دوه بجـې بـه زۀ ستاسـو انتظـار كـووم او تاسـو ټـول بـه روتـې زمـا سـره خـورئ خـو زۀ بـه درتـه صـبا هغـه قيصـه كـووم كومه قيصه چې ما لاتر ننه پورې تاسو ته نۀ ده كړې"

د طـوطي ګـل كاكـا د دې خبـرې د اؤريـدو سـره زمـا پـۀ زړۀ كښـې تلوسـه سـبوا شـوه چـې دا بـه كومـه قيصـه وي چـې تـر اوسـه بـه طـوطي ګـل كاكـا مـونږ تـه نۀ وي كـړي پـۀ دغـه خيـال كښـې پـۀ دغـه فكـر كښـې پـۀ دغـه سـوچ كښـې زۀ خپـل كـور تـه راورسـېدم خـو زۀ ډېـر نـاقراره وومـه مـا ټولـه شـپه دا سـوچ كولـو چـې صـبا لـه بـه طـوطي ګـل كاكـا مـونږ تـه كومـه قيصـه اؤروي مـا كـۀ هـر څـو د اودۀ كېـدو كوشـش كولـو خـو چـې سـترګې بـه مـې پټـې شـوې نـو مخـې تـه بـه مـې طـوطي ګـل كاكـا پۀ خندا خندا راغے.

"صبا به خامخا راځې"

زمـا پـۀ غـوږونـو كښـې بـه دا اواز داسـې اوګـونځېـدو لكـه چـې طـوطي ګـل كاكـا ماتـه بيـا بيـا هـم دغـه يادونـه كـوي شـپه تېـره شـوه صبا لـه چـې مـا سـترګې اوغړولـې مخـامخ مـې ګـهړۍ تـه اوكتـل نـو لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



سحر وختي ؤ زما دوه بجو ته انتظار ؤ دغه ساعت چا د نزدې جومات لوډ سپيکر خلاص کړو د بې وخته لوډ سپيکر خلاصېدو سره به د هر چا تلوسه سېوا کېده او دغه رنګ زما هم په تندي خوله راماته شوه.

"يؤ ضروري اعلان واورئ د بر کلي طوطي ګل کاکا په حق رسېدلے دے نن ماسپخين دوه بجې به ئې جنازه وي"

د دې خبر اؤرېدو سره زما په تندي خوله نوره هم راماته شوه په خُلهٔ کښې مې لاړې اونښتې سترګې مې بقې پاتې شوې او داسې راپرېوتم چې هډو بيا د ځان نه خبر نهٔ شوم.

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library


# بدل

"دا د فلائنګ کوچ د سیټ ځلورمه سورلۍ وه چې کېښناسته او دغه شان د ټولو سیټونو سورلۍ پوره شوې او فلائنګ کوچ روان شو"

فلائنګ کوچ کښې ناستو خلکو په مختلفو موضوعاتو خبرې کولې چا عام ګپ شپ چا د غوا بیزې بحث او چا د روانو حالاتو جایزه اخستله خو تور ګل کاکا بلکل چُپ چاپ غلے ناست ؤ د تور ګل کاکا دغې چُپتیا مختلفې معنې ورکولې خو ټول خلک په خپلو خبرو کښې مشغول وو او تور ګل کاکا ته د چا هم پام نهٔ ؤ تور ګل کاکا به کله مخ يؤ اړخ ته واړولو او کله بل اړخ ته او بیا به ئې ډرائیور ته اوکتل او سر به ئې داسې اوخوزولو لکه چې په څهٔ خبره خفه ؤ او د افسوس اظهار ئې کولو دغه شان ګهنټه نیمه تېره شوه څوک په خپلو خبرو اترو کښې ستړي شول او څوک د سفر هوا وهلي پرېشانې يوړل په ګاډي کښې ځائے په ځائے کله کله يؤ نیم اواز راوخېژي خو باقي لړه چُپتیا شان خوره شوه تور ګل کاکا چې ماحول لږ غلے شان محسوس کړو نو ګېر چاپېره ئې اوکتل او بیا ئې سر يؤ او بل اړخ ته اوخوزولو او يؤ سوړ اسوېلے ئې اوکړو او دا ځل ئې شونډې هم اوخوزولې لکه چې د ځان سره ئې څهٔ خبره هم اوکړه چې په دې کښې يوې سورلۍ په ډرائیور اواز اوکړو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



”اُستاز“

”لږ سائيډ ته بريک شه“

ډرائيور ګاډے يو سائيډ ته اودرولو يوه سورلۍ کوزه شوه او فلائنګ کوچ روان شو د سورلۍ په کوزيدو تور ګل کاکا د فلائنګ کوچ په سيټ کښې لږه پراخي محسوسه کړه او مُسکے شو خو بيا ئې د ځان سره څۀ اووئيل او سر ئې يۆ خوا بل خوا اوخوزولو او بې مجاله شان ئې شاته سيټ ته ډډه اووهله چې سيټ ته پۀ ډډه وهلو تور ګل کاکا پرېشانۍ يوړۀ او سترګې ئې ورغلې څۀ ساعت تور ګل کاکا هم پۀ دغه حال اودۀ پروت ؤ خو ناڅاپي فلائنګ کوچ اودريدو او پۀ تور ګل کاکا کلينډر اواز اوکړو۔

”کاکا سورلۍ ته لږ ځائے ورکړئ لږ ور اخوا شئ“

تور ګل کاکا چې سترګې اوغړولې او د کلينډر د وينا مطابق لږ اخوا شو نو بيا ئې سر اوخوزولو او يۆ غوږ او بل غوږ ته ئې لاس يوړل او اوګوريدو څۀ مزل شوے نۀ وو ؤ چې بيا يوې سورلۍ د کوزيدو اواز ورکړو او دغه رنګ بيا د هغې سورلۍ پۀ ځائے بله سورلۍ راوختله دا سلسله هم دغه شان جاري وه او چې تور ګل کاکا د پېښور نه سوات مينګورې ته رارسيدو نو د فلائنګ کوچ د سيټونو ټولې سورلۍ بدلې شوې وې د تور ګل کاکا د دې خبرې سره اختلاف نۀ ؤ چې سورلۍ پۀ لار ولې بدلېږي رابدلېږي خو د فلائنګ کوچ پۀ سيټ ځلور ځلور سورلۍ کښېنول ورته جائز نۀ ښکاريدۀ اخير چې د تور ګل کاکا خاموشي ماته شوه او د يوې

(c) ketabton.com: The Digital Library


سـورلۍ راختلـو پـۀ وخـت ئـې د فلائنـګ کـوچ نـه راودانګـل او پـۀ ډرائيـور ئـې ورمنـډه کـړه ډرائيـور ئـې جوښـت پـۀ ګرېـوان کښـې اونيولـو او د فلائنګ کـوچ نـه ئـې پـۀ راښـکلو راښـکلو راکـوز کـړو او چـې د فلائنـک کـوچ نـه بـاقي خلـک خلاصـون لـه راکوزيـدل او رارسـېدل نـو تـور ګـل کاکـا د ډرائيـور پـۀ سـينه د تمـانچې درې ګـولۍ ښـخې کـړې وې دا هغـه د خپـل هغـه زلمـي زوي بـدل اخيسـتے ؤ کـوم چې د فلائنګ کوچ ډرائيور د معمولي تکرار نه پس وژلے ؤ.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوټۍ اوړپېده

(c) ketabton.com: The Digital Library


# غوټۍ اوږ ژپده

دغـه ورځ زمـا د ژوند ورځ وه د سـپرلي موسـم ؤ وُنـو بوټـو ایلـه غـوټۍ سـپړدلې وې ګېـر چـاپېره پـۀ زمکـه د وُنـو بوټـو شـینکے خـور ؤ مسـته فضـا وه نـرے نـرے بـاران وریـدو کلـه کلـه بـه لـړې هـم راخـورې شـوې خـو کلـه کلـه بـه موسـم داسـې صـفا شـو چـې لمـر بـه سـترګه راښـکاره کـړه بـاران بـه اودریـدو او لـړې بـه ځـائے پـۀ ځـائے غومبـک غومبـک ولاړې ښـکاریدې د څـۀ کـار د پېښـې لـۀ کبلـه مـا خپـل ګـاډے د کـوره رابهـر کـړو او د بـازار لار مـې اونیولـه څـۀ سـاعت پـس چـې زۀ بـازار تـه اورسـېدلم نـو پـۀ بـازار کښـې د څـۀ سـود سـودا دپـاره مـې خپـل ګـاډے د سـړک پـۀ غـاړه یـؤ اړخ تـه اودرولـو او یـؤ دوکـان تـه ورغلـم دوکـان تـه د ورتللـو سره سـم مـا بـه لاد دوکانـدار نـه د څـۀ سـودا پـۀ بـاره کښـې پوښـتل چـې د شـا نـه چـا د لمـن نـه کلـک اونیـولم مـا چـې شـاته اوکتـل نـو تقریبـاً چـې د شـپږو یـا د اووۀ کـالو یـوه وړوکـې ماشـومه وه چـې زمـا لمـن ئـې نیـولې وه مـا پـۀ حېرانتیـا سـره هغـې تـه اوکتـل زړۀ مـې یـو تـرک اوکـړو ماتـه داسـې محسوسـه شـوه چـې ګینـې زمـا وړه لُـور وه ولـې چـې پـۀ دغـه شـان عمـر زمـا هـم یـوه وړه لُـور وه خـو چـې کلـه مـې پـۀ غـور اوکتـل نـو راتـه معلومـه شـوه چـې بـل څـوک وه مـا د ځـان سـره غلـې شـان اوویـل چـې دا لاد چـا نـه پـاتې شـوې ده کـۀ نـا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د دوکاندار څوک وي خو خبر زهٔ د کور نه پهٔ څهٔ کار راوتلے ووم د خپل کار پهٔ تکل مې پام سود سودا ته لاړو او چې مې دوکاندار ته د څهٔ خيز دپاره د وئيلو اراده کوله نو بيا مې د شا اړخ لمن رابښکودلے شوه ما بيا زر شاته اوکتل چې بيا هم هغه ماشومه وه او د ځان سره ئې غلي غلي څهٔ وئيل هم خو ما سم وا نهٔ وربدل چې ماشومې به څهٔ وئيل خو دا ځل زهٔ راخکته شوم او ماشومه مې راونيوله او ورته مې اووئيل چې څهٔ دي ماشومې څهٔ غواړې.

ماشومې خپله وړه خُلهٔ کولاؤ کړه او پهٔ وړه خُلهٔ ئې واړهٔ واړهٔ وئيل چې ماما پيزار درله صفا کړم د ماشومې دا خبره څهٔ وه چې زړهٔ مې يو لوئے ټوپ اووهلو سترګې مې د حېرانتيا نه بقې پاتې شولې د ماشومې دې خبرې مې پهٔ زړهٔ ارې رابښکودې او د ډېر درد لهٔ وجې مې د ماشومې پهٔ سر لاس رابښکودهٔ غېږ ته مې رانزدې کړه او ورته مې اووئيل چې يهٔ ليونۍ تهٔ به اوس زما پيزار صفا کوې کهٔ تهٔ خو د لوبو ماشومه يې ستا خو د لوبو وخت دے ماشومه مې پهٔ مخ مخ ښکُل کړه او ترينه مې اوپوښتل چې ولې ستا پلار نشته؟ ـ ماشومې بيا پهٔ وړه خُلهٔ جواب راکړو چې نا زما پلار نشته او خپل لاس ئې د سړک بل اړخ ته اشاره کړو چې مور مې هغه ده ما چې د ماشومې اشارتاً ځائے ته اوکتل نو يوه زنانه د ټوپۍ پهٔ بورقه کښې ناسته وه او مخې ته ئې د نارينو د سر ټوپۍ مسواکونه تسبيح او داسې نور د خرڅ سامان لګېدلے ؤ او معلومېدله داسې چې دغه سامانونه هم هغې خرڅول.

(c) ketabton.com: The Digital Library


مـا چـې دا حـالات اولیـدل نـو نـور هـم پرېشـانه شـوم او بـې اختیـاره مــې خپـل جیـب تـه لاس کـړو او د پینځـهٔ زره نـوټ مـې ماشـومې تـه ور کــړو ماشــومې چــې نــوټ تــه اوکتــل نــو پــه ســترګو کښــې ئــې د خوشـحالۍ اوښـکې لـړې لـړې شـوې او بیـا ئـې مـور پلـه منـډه کـړه خـو.... خـو هغـه لامـور تـه رسـېدلې هـم نـه وه چـې د یـؤ مـوټر سـائیکل د لګېـدو سـره پـه سـړک کښـې خـوره وره راپرېوتـه.... هـر چـا سـاه سـاه رامنـډې کـړې د ماشـومې پـه خُلـهٔ او پـوزه وینـه راماتـه وه هغـې لکـه چـې زهٔ پـهٔ دومـره خلکـو کښـې اوپیژنـدم ماتـه ئـې پـهٔ وینـو سـترګو اوکتـل او بیـا ئـې معصـوم لاس ماتـه راوږد کـړو او بیـا ئـې د یـوې اوږدې ساه اخستو سره سترګې پټې کړې لکه چې ماته وائي

" ماما دا روپۍ مې مور ته ورکړه "

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاري صيب

(c) ketabton.com: The Digital Library



# قاري صېب

هغـه د جومـات پـهٔ وړومبـي صـف کښـې پـهٔ قاعـده کښېناسـتو او دواړه لاسونه ئـې پـهٔ غېـږه کښـې د يـؤ بـل سـره رامـوټې کـړل يـو ځـل ئـې بنـې او بيـا ګـس اړخ تـه ئـې د سـترګو پـهٔ لکـۍ کښـې شـاته اوکتـل مخکښې ورسته پهٔ زنګيدو شو او بِسم للّٰه ئې اوکړه۔

قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ اَنۡفُسُكُمۡ اَمۡرًا....... (سورة يوسف ۱۸)۔

پـهٔ دې کښـې څـهٔ شـک نـه ؤ واقعـي چـې للّٰه تعـالیٰ ورلـه ډېـر خـوږ اواز ورکـړے ؤ مـا چـې د قـاري صـېب دغـه حـالات وليـدل نـو هغـه ورځ راتــه مخــې تــه نبغــه اودرېــده پــهٔ کومــه ورځ چــې قــاري صــېب د دې خبرې نه چوټ انکار اوکړو چې

"نا نه زهٔ قاري نهٔ يم ما حفظ نهٔ دے کړے"

دا هغــه وخــت ؤ چــې قــاري صــېب ايلــه نــوے نــوے پــهٔ فرنټيئــر کــور ايــف ســي کښــې د ســپاهي پــهٔ حېــث برتــي شــوے ؤ او د قــاري صـېب نـوکري ايلـه يـو کـال وه د قـاري صيب يـؤ کليـوال ؤ چـې هغـه پـهٔ دغـه وخـت کښـې د قـاري صـېب د پلاټـون سـينيئر کمانـډر ؤ د قـاري صــېب کليــوال ډېــر خــوږمن او قــدرمن انســان ؤ د خپــل پلاټــون د تمـامو ځوانـانو بـه ئـې پـوره پـوره خيـال سـاتلو چـې څـومره بـه تـرې کېدلـه نـو د خپـل وس مطـابق مـنډه تـړه بـه ئـې د هـر ځـوان دپـاره وهلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغـه د قـاري صـيب د پـاره هـم غـوره سـوچ فكـر لرلـو ولـې چـې كـۀ يـۀ طرفتــه د پلاټــون مشــري ور پــۀ غــاړه وه نــو بــل طرفتــه د قــاري صــيب كليـوال هـم ۀ د غـه وجـه وه چـې د قـاري صـيب پـۀ حـق كښـې هغـۀ د ښـۀ نه ښۀ فيصله كول غوښتل۔

د غــه رنګ د قــاري صــيب كليــوال د خپــل بټــالين حوالــدار ميجــر ســره دا خبــره اوكــړه چــې زمــا يــۀ كليــوال حــافظِ قــرآن د ے او كــۀ ستاســو خوښــه وي نــو د خطيــب صــيب پــۀ غيــر موجــودګۍ كښــې بــه زمــونږ خطيــب وي د قــاري صــيب د كليــوال مقصــد دا ۀ چــې يــۀ خــوا بـه خطيـب صـيب تـه هـم سـهولت وي او بـل خـوا بـه زمـا كليـوال تـه هـم لـږ راحــت او ســكون والا ځــائے مــيلاؤ شــي ولــې چــې د ســپاهي كــار خــو ټولــه ورځ منــډې تــرړې وي هلتــه لاړ شــه او دلتــه راشــه، ټوپــک خكتــه او ټوپــک پورتــه وردي واغونــده او وردي اوباســه او د ســپکنډ خطيــب ډيــوټي څــۀ وي خــو د جومــات صــفائي او پيــنځــۀ وختــه اذان بــس نــور خو ټوله ورځ پۀ پاكو سپينو جامو كښې تسبيح اړوي او بس۔

د قــاري صــيب كليــوال چــې بټــالين حوالــدار تــه دا خبــره اوكــړه نــو خبـره ئـې وۀ نـۀ غـورزوله او سمدسـتي ئـې قـاري صـيب پسـې يـو ځـوان ور واستلو او خپل ځان ته ئې راوغوښتلو۔

"هن ..... ځوانه تاسو د قرآن حفظ كړے د ے؟"

قــاري صــيب مُســكے شــو خــو هــيڅ جــواب ئــې ور نــۀ كــړو بټــالين حوالــدار ورتــه اووئيــل كــۀ رښــتيا حــافظِ قــرآن يــې نــو د خطيــب صــيب

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره شه سبکنه خطیب به ئې قاري صېب چې دا واؤریدل نو چوټ انکار ئې اوکړو.

"نا نه جي زۀ حافظِ قرآن نۀ يم دا چا دروغ وئيلي دي"

د قاري صېب کليوال يک دم قارۍ صېب ته حېران حېران اوکتل د څۀ خبرې اراده ئې لرله خو غلے پاتې شو

ولې چې کۀ نور چاته د قاري صېب د حفظ پته نۀ وه نو کليوال ته خو پوره پوره علم ؤ د قاري صېب کليوال بتهالين حوالدار نه معذرت اوغوښتلو او روان شو خو هېڅوک د قاري صېب د انکار پۀ وجه پوهه نۀ شو چې قارۍ صېب اخر انکار ولې اوکړو قاري صېب يخه يخي تېزې هواګاني سپيني سپيني واؤرې شړ شبړ دنګ غرونه تهولې سختې سوختې تېرولې خو د جومات د سبکنه خطيب ډيوټي ورته خدائے خبر چې ولې ګرانه وه چې قبوله ئې نۀ کړه د قاري صېب کليوال دا خبره د هغې ورځې نۀ پۀ زړۀ ګرځوله پۀ کومه ورځ چې قارۍ صېب انکار اوکړو او دا ئې غوښتل چې د قاري صېب نه اوپوښتي چې تاسو انکار ولې اوکړو.

څۀ موده پس قاري صېب او کليوال پۀ چهټۍ کلي ته لاړل کله چې پۀ کلي کښې د قاري صېب کليوال د قارۍ صېب نه پتهه پوښتنه اوکړه نو قارۍ صېب ورته اووئيل چې

"هر څۀ کولے شم کليواله خو بس پۀ چا پسې رانه وروستو اودربدل نۀ کېږي".

******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د ټوپک شپېلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ټوپک شپېلۍ

هر څو که نسرین یوه زنانه وه خو د بهادرۍ قیصې ئې لکه د یؤ ننګیالي زلمي کوڅه پۀ کوڅه او کلي پۀ کلي خورې وې . هغه یوه هوښیاره، بهادره، حسینه، او د اخلاقو یوه ښکُلې نمونه وه نسرین د خپلې مور ګل بانو د مرګ نه پس هم پۀ خپل کلي کښې عبد الله نومې یو ځوان ته وادۀ شوه . عبد الله هم ډېر ښۀ او تکړه ځوان ؤ خو د خپل مور او پلار خوارۀ ئې نۀوو لیدلي . عبد الله د درېو کالو ماشوم ؤ چې مور پلار ئې پۀ یوه ځانمرګي حادثه کښې وفات شوې وو . او د عبد الله پالنه ملک جان میر ګل لکه د خپل اولاد پشان کړې وه . ملک جان میر ګل د عبد الله خپل سکه ماما ؤ .

ملک جان میر ګل د لوئې جائیداد مالک ؤ او د ملک صېب نور وروڼه هم ښۀ د مال خاوندان وو ملک صېب د عبد الله ډېر خیال ساتلو او اکثر به ئې دا کوشش ؤ چې د عبد الله پۀ حق کښې څۀ قسم فېصله هم وي نو چې د عبد الله د مرضۍ مطابق دې اوشي ملک صېب به داسې ځکه کول چې عبد الله ته د مور پلار څۀ احساس وَ نۀ شي د نسرین سره د عبد الله رشته هم د عبد الله پۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښه شوې وه کله چې د عبد الله وادۀ اوشو نو عبد الله به ملک صيب ته دا خبره کوله چې

" ماما جي زۀ غواړم چې زما ځانله کور شي او باقي ژوند زۀ پۀ تاسو بوج نۀ شم "

خو ملک صيب به ورته وئيل چې

" نا عبد الله نا تۀ پۀ ما بوج نۀ يې څۀ اوشو کۀ تۀ زما خپل بچے نۀ يې خو زما د خپلې خورې خور بچے خو يې کنه او بيا زما پۀ دې مال حال کښې ستا پوره پوره حصه ده زما د خور چې زما سره کومه حصه جائيداد کېږي نو د هغې مالک خو يې کنه "

خو عبد الله بيا هم نۀ غوښتل چې زۀ دې د ماماجي ګټې وټې ته ناست يم او خورم څښم دې عبد الله ملک صيب مجبوره کړو او ځانله ئې د مور پۀ حصه جائيداد کور جوړ کړو عبد الله د ماما نه ځانله شو او د نسرين سره ئې ښۀ د مينې محبت ژوند تېرولو کال پس خدائے پۀ عبد الله او نسرين مهربانه شو او پۀ نارينه اولاد ئې وَ نازول څۀ موده پس عبد الله د خپل پلار د جائيداد حساب کتاب د خپلو ترونو سره اوکړو او پۀ خپلو ترونو ئې خپله حصه خرڅه کړه او پۀ هغه پېسو ئې ځانله دوبۍ ته د تللو ويزه واخسته عبد الله دوبۍ ته مزدورۍ دپاره لاړو د مسافرۍ شپې ورځې کۀ هر څو سختې وې خو د نسرين او عدنان د روڼ سباؤن دپاره ئې زغملې او دغه رنګ نسرين به هم د عبد الله جدايۍ زهيروله خو د خپل بچي عدنان

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره به ئې خپل ځان مشغولولو او د وړوکي عدنان وړو وړو خبرو او خنداګانو به ترې ټول غمونه هېرول.

عبد الله چې پۀ دوبۍ کښې يو کال نيم تېر کړو نو الله پاک ئې د ژوند لمحې پوره کړې او عبد الله پۀ ايکسيډنټ کښې مړ شو دا غږ د نسرين دپاره سم تندر ؤ داسې وه لکه چې پۀ نسرين يوازې د قيامت ورځ وه پۀ ځوانه ځوانۍ کښې د عبد الله نه جدا شوه نسرين لاړه کونډه شوه عدنان يتيم شو د نسرين او عدنان د سر سېورے وران شو بلها ارمانونه ئې په زړۀ پاتې شو د عبد الله د مرګ نه شپږ مياشتې پس يوه ورځ ساخت مهال د نسرين د کور د کوڅې ور يؤ فقير وډبولو نسرين ورته د کور دننه نه اواز ورکړو.

"څوک يې؟"

جواب اوشو

" غريب فقير ملنګ يم چې څۀ مو د وسه کېږي د الله پۀ نامه ئې غواړم الله مو د ژوند ټول مصيبتونه پرېشانۍ پۀ خوشحالۍ بدلې کړه ډېر غريب يمه څۀ لاس امداد راسره اوکړئ الله مو اوبخښه"

نسرين اوويل چې

" زۀ خو پخپله د سر سېورے نۀ لرم ايکي يؤ ماشوم زوي سره د کونډتون شپې ورځې سبا کووم بس يو د الله اسرې ته پرته يم"

دغه رنګ يوه شېبه خاموشه شوه لکه چې د غمونو باران ورباندې بيا تازه شو او بيا ئې فقير ته پۀ غريو ژن اواز کښې اووې

-

(c) ketabton.com: The Digital Library



" تۀ لږ صبر وکړه زۀ راځم "

لږه شېبه پس نسرين په يۀ کټوري کښې لږ غوندې اوړۀ راوړۀ

" هن کاکا دا واخله"

فقير د نسرين د لاس نه کټورے واخستۀ او اوړۀ ئې په ګوډې کښې واچول۔

" لله دې ستا خاوند له جنتونه ورکړي بچے دې خدائے نيک عمله لوئے کړه لله دې پرې ډېره خوشحاله کړه "

فقير په يوه ساه دعاګانې اوکړې او روان شو نسرين هم د فقير په دعاګانو امين اوکړو او د عبد لله په يادونو کښې په کټ کښې کښېناسته ولې چې نسرين ته بيا د عبد لله نامه مخې ته شوې وه ۔ د کور د کار سره سره ټوله ورځ ئې د عبد لله په يادونو کښې تېره کړه کله چې په ټول کلي د تئيرو تور څادر راخور شو چپه چپتيا شوه ګېر چاپېره د ګاونډ خلک په خوارۀ خوب اودۀ شو ۔ د نسرين سترګې لاورغلې نۀ وې چې په سر ئې چا د تور ټوپک شپيلۍ کېښوده۔

" چپ! چې شور وَ نۀ کړې "

نسرين اوويرېدله سترګې ئې په ځائے ودرېدلې ساه ئې بې واره شوه حلق ئې اوچ شو او د خُلې نه ئې اواز نۀ راختو څو شېبې پس چې ئې د سترګو په لکۍ کښې وکتل نو يۀ کس تربوزک وهلے ولاړۀ او د ټوپک په ماشه ئې ګوته پرته وه او نسرين ته ئې اووئيل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



" کـۀ خپـل ځــان دې روغ خــوښ وي نــو ســره د ماشــوم مخکښــې شه ګنې نو"

نسـرین چـې دا واؤریـدل نـو ډېـرې غصـې نـۀ ئـې د وجـود وینـه کلـه پښـو لـه او کلـه سر لـه تلله او راتللـه خو هېڅ ئې هم نـۀ شـو کـولے نسـرین سـره د خپـل ځـان پـرواه نـۀ وه خـو د عـدنان لـۀ خـاطره ئـې تللـو تـه غـاړه کېښـوده او ورسـره روانـه شـوه ولـې چـې بلـه لار نـۀ وه د نسـرین د زړۀ نـه یـو لله خبـر ؤ عـدنان ئـې پـۀ یـو طـرف راړولے او روانـه وه خـو پـۀ زړۀ کښــې ئــې رنــګ رنــګ ســوچونه فکرونــه کــول د ځــان ســره زړۀ کښـې وائـې چـې داسـې څـۀ طریقـه اوکـړم چـې د دې ظـالم نـۀ مـې ځـان خـلاص شـي د لـږ مـزل نـه پـس نسـرین خپـل حـواس بحـال کـړۀ او دغـه سړي ته ئې اووئیل۔

" وروره کـۀ خفـه کېـږې نـۀ نو زمـا سـره زمـا کـالي پتـرې او څـۀ لـږې ډېـرې نغـدې روپــۍ دي کــۀ خوښــه دې وي نــو زۀ بــه ورپســې بېرتــه لاړه شم "

ســړي چــې دا واؤرېــدل نــو نــور هــم خوشــحاله شــو او ورتــه ئــې اووئیل چې

" خوښــه مــې ده خــو ماشــوم بــه دې مــا ســره وي او زۀ بــه هــم درســره ځم "

نسـرین پـۀ خوشـحالۍ خوشـحالۍ راروانـه شـوه کلـه چـې واپـس راورسـېدله نـو نسـرین پـۀ خپـل کـور پـۀ منـډه ورننوتلـه او پـۀ کوټـه کښـې دننـه دیـوال تـه راځوړنـد کلاشـنکوف تـه ئـې لاس کـړو او پـۀ دغـه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ظـالم ئـې تـش کـړو سـړے پـړ مخـې پرېوتـو نسـرين زر عـدنان بچـي لـه ورمنډه کړه اسمان ته ئې وکتل او د ځان سره ئې اووئيل

" شــکر د ے خدایــه چــې د ظـالم پـۀ لاسـونو کښـې دې هـم زمـا د عدنان بچي حفاظت اوکړو"

د کلاشـنکوپ د ډزو اؤریـدو سـره د ګاونـډ خلـک هـم راورسـېدل خلکـو چـې پـه زمکـه پـروت پـه وینـو کښـې لـت پـت د دغـه سـړي مـخ پرانسـتۀ نـو دا هـم هغـه کـس ؤ چـې د سـحر ئـې د ملنـګ پـۀ جامـه کښـې خېر و ذکات غوښتۀ۔

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تمام

(c) ketabton.com: The Digital Library


# قلم

خدائے خبر چې پهٔ ما ولې هغه دومره ښه لګېدلې وه یا خو رښتیا هغه ډېره ښکُلې وه او یا هسې د هغې ښائسته سترګې او ښکُلا زما پهٔ زړهٔ کښې ځائے شوي وو زما پهٔ خیال چې د هغې دغه انداز ښکُلے ؤ۔

" خو نا هیچرې نهٔ "

" دومره ښکُلې خو نهٔ وه "

او نهٔ داسې یو نا اشنا ښائست ؤ چې ګینې ما هډو لیدلے نهٔ ؤ ولې چې زما د کلي پهٔ لوئے بازار کښې د کپړو یو غټ دوکان ؤ او زما دوکان ته به روزانه نوي نوي مخونه راپېښېدل د ډېر لرې لرې نه او نا اشنا نا اشنا خلک به راتلل زهٔ به هر سحر خپل دوکان ته تلم او ماښام به ناوخته کور ته راتلم او لکه د نور کله پشان دغه ورځ خپل دوکان ته روان ووم پهٔ لاره کښې مخکښې دوه کلومیټره پس یؤ وړوکے بازار هم ؤ چې اکثر به پکښې د سړک د ټنګوالي او د ډرائیورانو د بې ځایه ګاډو اودرولو لهٔ وجې عموماً ګاډي را حیصار وو او پهٔ ګهنټو ګهنټو به را حیصار وو۔

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـه ورځ هـم ګـاډي را حیصـار وو کلـه یـۀ ګـاډ ے د بـل ګـاډي نـه پـۀ یـۀ اړخ او کلـه پـۀ بـل اړخ د وړانـدې کېـدو پـۀ هڅـه کښـې بوښت وو یۀ ګاډي واله به بل ګاډي واله ته وئیل

" تۀ لږ مخکښې شه "

او بل

" تۀ لږ شاته شه "

" هلکه هارنونه مۀ وهه غوږونه دې راله کاڼۀ کړل "

او کلـه کلـه خـو بـه پکښـې ډرائیـوران د یـۀ بـل سره پـۀ شر هـم شـول زمـا نـه وړانـدې یـۀ سـوزوکے پـۀ مـزه مـزه روان ؤ کلـه بـه ناڅاپـه اودرېـدو او کلـه بیـا ورو غونـدې روان شـو او چـې کلـه ورتـه لـږه شـان موقـع مـېلاؤ شـوه نـو د یـوې رکشـې نـه مخکښـې شـو مـا هـم خپـل ګـاډ ے پـۀ تېـزۍ سـره ور وړانـدې کـړو خـو د رکشـې نـه د وړانـدې کېـدو موقـع راتـه مـېلاو نـۀ شـوه زۀ هـم پـۀ دې کوشـش کښـې ووم چـې کـۀ پـۀ یـۀ اړخ راتـه لـږه لار مـېلاؤ شـي نـو لـږ بـه دوکـان تـه زر اورسـېږم رکشـه کښـې شـاته بنـې لاس تـه تقریبـاً د لسـو کـالو ماشـوم ناسـت ؤ او پـۀ څنـګ کښـې ورسـره ګـس اړخ تـه پـۀ تـور نقـاب کښـې یـوه پېغلـه ناسـته وه اتفاقـاً زمـا دغـې پېغلـې تـه پام شـو پېغلـه کلـه یـۀ خـوا کلـه بـل خـوا کلـه لانـدې کلـه بانـدې د ډېـرې حیـا نـه ئـې د سـترګو نظـر اړولـو را اړولـو لکـه چـې د پېغلـې سـترګو لـه چـا څـۀ ډکـے وغېـره وروړلـو او پېغلـې تـرې نـه خپلـې سـترګې بـچ کـولې د پېغلـې دا انـداز پـۀ مـا ډېـر ښـۀ اولګېـدۀ د پېغلـې دغـې ادا زمـا د زړۀ پـۀ مېـنځ کښـې قـدم کېښـود

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د زړۀ دروازه ئې وډبوله پېغلې پۀ دغې ادا زما اودۀ زړۀ راويښ کړو۔

دغه شان چې کله ما د خپل ګاډي پۀ هارن ګوتې کېښودې او هارن مې اووهلو نو زر ئې ماته اوکتل او چې پام ئې شو چې ګينې دے هم ماته ګوري نو زر ئې خپلې سترګې خکته کړې او بيا ئې د سترګو ګاتي پۀ ځائے د حيا لۀ وجې نه اودرېدل او بيا ئې خپل نقاب ته لاس پورته کړو اول ئې پۀ پوزه پۀ نرو سپينو ګوتو نقاب سم کړو او بيا ئې لاس تر يو غوږ ورسولو او هم پۀ خپل غوږ ئې د لاس ګوتې نيولې پرېښودې د پېغلې پۀ دې تماشه تماشه کښې زۀ نۀ پۀ وخت پوهه شوم او نۀ پۀ جوړ شوي رش چې پۀ دې کښې لار وشوه بازار ختم شو رکشه پۀ لار پاتې شوه او زۀ خپل دوکان ته ورسېدم۔

ګاډے مې يو خوا ته اودرولو دوکان مې کولاؤ کړو پۀ ګاونډيانو دوکاندارانو مې سلام واچولو او د خپل دوکان پۀ صفايئ کښې مشغول شوم خو د پېغلې هغه د حيا نه ډک ښائسته ښکُلے انداز به راته مخکښې مخکښې کېدو او د خپل ځان سره پۀ زړۀ زړۀ کښې مُسکے کېدم پۀ زړۀ کښې مې د پېغلې اداګانو يو لوئے زخم جوړ کړے ؤ زړۀ مې د خپل ځان سره پۀ خبرو ؤ او دا پوښتنه به ئې د خپل ځان نه پخپله کوله چې

" خدائے خبر چې دا پېغله به څوک وه؟ خو څه مړه کۀ هر څوک وه خو ډېره قدرمنه او حيا ناکه پېغله وه "

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوکـان صـفائي مـې اوکـړه جـارو مـې يـو ګـوټ تـه ورګـوزار کـړه او د جـامو تانونـه مـې سمول راسـمول خـو زړۀ مـې ډېـر نـاقراره ؤ کـۀ د چـا ګـاک يـا ګاونډي دوکاندار سره بـه مـې د څۀ خبرې لـۀ وجـې لـږ پـام غلـط شـو نـو سـاعت پـس بـه مـې بيـا هغـه پېغلـه را پـۀ زړۀ شـوه او نـاقراره بـه شـوم ورځ تېـره شـوه مـازيګر شـو چـې پـۀ دې کښـې مـې ناڅاپي نظر پـورې د سـړک پـۀ غـاړه هـم پـۀ دغـه پېغلـې پرېوتـو زۀ يـک دم پاسـېدم پـۀ زړۀ کښـې مـې د پېغلـې پـۀ ليـدو يـوه مسـته هـوا والوتـه پېغلـه پـۀ ماشـوم وريسـې وه او زمـا دوکـان تـه رانښوتلـه دوکـان تـه پـۀ رانښوتلو سره سم ماشوم اووئيل چې

" ماما جي پۀ نوي ډيزائن کښې د زنانۀ کپړې راواخله "

مـا زر زر د جـامو نـوي تانونـه راسـپړدل شـروع کـړل او زړۀ مـې غوښـتل چـې پـۀ ټولـو کښـې د ټولـو نـه ښـکُلي او ښائسـته جـوړه پېغلـې تـه راواخلـم پېغلـه لګيـا وه جـامې ئـې خوښـولې او مـا د پېغلـې پـۀ سـترګو کښـې خپـل ورک شـوے ځـان کتلـو زۀ د پېغلـې پـۀ تماشـه ووم او پېغلـه د جـامو پـۀ تماشـه وه اوس خـو مـې پېغلـه د ډېـر نـزدې نـه اوليدلـه هـر څـو کـۀ د پېغلـې مـخ پـۀ نقـاب کښـې پـټ ؤ خـو د پېغلـې سـترګې او ښـکُلي سـپين مرمـرين لاسـونو د پېغلـې د ښائسـت ګـواهي ورکولـه پېغلـې جـامې خوښـې کـړې او د ماشـوم مخـې تـه ئـې کېښـودې ماشـوم د هغـې جـوړې د قيمـت تپـوس اوکـړو او مـا ورتـه د جـوړې څـوارلس سـوه روپـۍ يـادې کـړې ماشـوم پېغلـې تـه اوکتـل او خپـل جيـب تـه ئـې لاس کـړو ماشـو د جيـب نـه قلـم راواخسـتو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library


پېغلې پـۀ لاس ئـې څـۀ اولیکـل پېغلـې خپـل لاس تـه اوکتـل بیـا ئـې د ماشـوم نـه قلـم واخسـتو او د ماشـوم پـۀ لاس ئـې څـۀ اولیکـل ماشـوم زر زما نه تپوس اوکړو

" پۀ دولس سوه به وَنۀ شي؟ "

پۀ جواب کښې ما د ماشوم نه اوپوښتل چې

" ولې دا ګونګےِ ده؟ "

او ماشوم جواب راکړو چې

" او ماما دا ګونګےِ ده "

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خندا که ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library


# خندا کۀ ژړا

د تيمور خان مور تمبل پۀ لاس دا خبره اوکړه چې

" زما دغه ايکي يو نيازبين بچے دے او زۀ به د خپل زوي تيمور خان وادۀ په داسې ډنګ ډونګ سره سر ته رسوومه چې د تمام محلت خلک ئې پۀ تماشو ستړي شي "

هر څو کۀ د تيمور خان پلار شمشېر ګل کاکا د تنګ ټکور خلاف ؤ خو د تيمور خان مور د خپل زوي د وادۀ خوشحالي د تنګ ټکور نه بغېر نيمګړې ګڼله د تيمور خان د مور پښه د ډېرې خوشحالۍ نه پۀ زمکه نۀ لګېده توده توده پره وه چاته به ئې د يؤ کار ښودنه کوله او چاته د بل کار.

" دغې تۀ دا لوښي اووينځه ......او فلانکۍ تۀ خلکو له اوبۀ ورکوه......ورېرې تۀ مېلمنو ته وريژې اچوه "

او دغه رنګ خپله خبره به ئې مخ پۀ وړاندې بوتله چې

" ټولو ته وايم ګورے چې مېلمانۀ درنه خفه نۀ شي "

او پۀ منډه منډه به د پېغلو پۀ محفل ورننوتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



" یـۀ جینکـو سـندرې وايـئ کنـه تاسـو خـو داسـې غلـې ناسـتې يـئ او کـۀ سـندرې نـۀ درځـي هلئ......پاسـئ ځـۀ غـم خـو نـۀ دے پـۀ کـور کښـې مـې پـۀ وړومبـي ځـل خوشـحالي راغلـې ده لاد دې نـه زياتـه خوشحالي به لا کله پۀ ما راځي "

او بيـا پخپلـه ئـې تمبـل تـه لاس کـړو يـؤ ځـل دوه د ګوتـو پـۀ سـرونو د تمبـل غـاړه او بيـا د لاس پـۀ ورغـوي د تمبـل مېـنځ تـه خپـل لاس راواچولو او شروع ئې اوکړه.

" يۀ هلکه وره راوله "

" برغه تماشه راوله "

" توره دې لونګي او زرين دې شال دے "

" نن د تيمورخان او د خندا وار دے "

او کلـه کلـه خـو سـره د تمبـل بـه پـۀ ګـډا هـم ورغلـه محفـل بـه ئـې ګـرم کـړو جونـه بـه ئـې راپـارې کـړي چـا بـه لاسـونه پړقـول چـا بـه سـندرې وئيلـې او چـا بـه ګـډاګـانې خنـداګـانې کـولې تـر دې چـې بعضـو بعضـو ښـځو خـو بـه پکښـې د وريـژو ډکـې غـورۍ هـم پرېښـودې او د تيمـور خـان د مـور د ګـډا پـۀ تماشـه بـه وې چـې پـۀ دې کښـې د تيمـور خـان پـلار شمشـېرګل کاکـا د بيټـک د يـؤ ديـوال پـۀ سـر سـر راښـکاره کـړو پۀ غصه غصه انداز کښې ئې اووئيل

" دا ځـۀ غوبـل مـو جـوړکـړے دے ...... بنـد کـړي دا فضـوليات .......د ځان نه مو راته ډمان ساز کړي دي "

(c) ketabton.com: The Digital Library


او بيا د دې خبرې کولو سره ئې د تيمور خان مور ته اوکتل او پۀ مُسکي شان انداز کښې ئې اووئيل

" او دې ته پکښې اوګوره .......تۀ خو د عقيدې ښځه يې .......پۀ سپين سر دې د وړو سره ځان سم کړے دے بنده کړه دا ډمخانه چې د ډنګ اواز وا نۀ ورم "

د شمشېر ګل کاکا د قارېدو سره خاموشي شوه د جونو محفل پيکه شو او د تيمور خان مور د خپل ځان سره پۀ ګونېدو شوه او بيا ئې اووئيل چې

" تۀ وس دۀ ته ګوره .......ستا وس د ښځو پۀ کار کښې څۀ کار دے خو ځه چرته د خپلو مېلمنو سره کېښنه د ځلورو مياشتو پۀ تبليغ کښې څۀ لاړې چې د ځان نه دې راته اوس مُلا جوړ کړے دے ځه خپل کار کوه دا خو واړۀ دي څۀ به کوي نو ستا پکښې څۀ کار دے "

د تيمور خان مور خپله خبره جاري اوساتله چې

" او بيا نن ؟ .......نن خو د خوشحالۍ ورځ ده داسې د خوشحالۍ ورځې کله کله وي او زما پۀ کور کښې خو دا خوشحالي وړومبۍ خوشحالي ده خدائے خبر چې بله خوشحالي به کله راځي زما خو بل زوے هم نشته پۀ شپږو لوريانو د بره دغه يو ککے خدائے راکړے دے چې زۀ نن د خپل نيازبين زوي پۀ خوشحالۍ خوشحالي او نۀ کړم نو کله به کووم "

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تیمور خان د مور او پلار تر مېنځه دا خبرې لاختمې نه وې چې په بل اړخ د تیمور خان د ترونو او ماماګانو بچي سره د تیمور خان په ډنګ ډونګ او په ګډاګانو په کوڅه راننوتل د چا په لاسونو کښې تمانچې وې او د چا په لاسونو کښې د پټاخو ډبې وو ټولو د ډزو یو لوئے غوبل جوړ کړے ؤ ډز ډوز د سازونو او سندرو شور د ماشومانو ها هو او ګڼه ګوڼه ـ تیمور خان پخپله د کلاشنکوف بوږ کش کړو اسمان ته ئې اونیوه او په ماشه ئې ګوته ټینګه کړه ـ

دړه دړ دړه دړ دړه....

د کلاشنکوف پوره جاجر ئې تش کړو ـ

شمشېر ګل کاکا چې دغه غوبل ته اوکتل نو د برداشت ماده ئې ختمه شوه په ځان پوهه نه شو او په دېوال ئې بره راودانګل او په غصه سره ئې د یو کس نیم نه ټپېره پورته کړه او وَ ئې وئیل

" دا څه کوي لوفرانو .......ماله کار ګورئ .......ځئ اوځئ مېلمه کوربه نه پېژنم چې په عقیده کښېنئ خو ټهیک ده او که خفګانونه غوبل جوړوئ نو په مخه مو ښه چې وَ مو نه وینم "

او خپل زوي تیمور خان ته ئې مخ راواړولو او وَ ئې وئیل ـ

" تا څه د ځان نه لېونے جوړ کړے دے .......دا خلک خو هم تاله مبارکۍ له راځي او ته د ماشومانو سره امبراقې وهې او دا په لاس کښې دې دا ټوپک څه کوي تاته ما نه دي وئیلي چې د لوفرانو سره مه ملګرے کېږه .......ځه هلته د خپلو مېلمنو سره کښېنه "

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمشېر ګل کاکا د تيمورخان سره پۀ دې خبرو ؤ چې د شاه اړخ نه چا اواز اوکړو چې

" کاکا د تيمور خان پۀ مور څۀ چل شوے او راپرېوتې ده "

شمشېر ګل کاکا او تيمورخان چې شاته اوکتل نو د کور ټولې زنانه يو ځائے تۀ راټولې شوې وې او يوه لويه واوېلا جوړه شوه داسې واوېلا چې نۀ خو شوک پۀ خندا پوهېده او نۀ پۀ ژړا چا دا پېژان نۀ شو کولے چې دا راجمع شوي خلک ژاړي او کۀ خاندي شمشېر ګل کاکا او تيمور خان ورمنډه کړه او چې د راجمع شوو زنانو پۀ مېنځ کښې ئې د تيمور خان مور ته اوکتل نو د تيمور خان د مور پۀ تندي د وينو سېلاب راماتت وو تيمورخان چې خپله مور پۀ خپله غېږه کښې راوچته کړه او وۀ ئې کتل نو د تيمور خان د مور د تندي نه د کلاشنکوف ګولۍ پورې راپورې وتلې ده.

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# رحم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# رحم

هسې خو د تماشې خلک بنۀ ډېر او بې شماره ؤ خو يؤ هم پکښې داسې نۀ ؤ چې تاروګې تۀ ئې دومره قدرې وئيلي وے چې

" ظلم مۀ کوه "

تاروګې چې به هغې له ګُزار ورکړو نو هغې به منډه کړه چغې به ئې کړې او د سترګو نه به ئې د اوښکو يو سيلاب جاري شو ګېر چاپېره به ئې اوکتل زړۀ ئې غوښتل چې دې ګېر چاپېره تماشګيرو خلکو ته اووائي چې د دې ظالم نه مې خلاصه کړي خو زر به ئې سر خکته کړو او د ځان سره به ئې پۀ زړۀ زړۀ کښې اووئيل چې

" ولې دا خلک نۀ پوهېږي؟....... کۀ دوي ظلم نۀ پېژني .......او کۀ د دوې پۀ سينه کښې زړونه نشته "

خو د تاروګې پۀ دې عمل هر چا ځان شپېلے کړے ؤ او تشه تماشه به ئې کوله او نۀ تاروګې ته دا احساس کېدو چې

" د خدائے بنده دا خو هم د الله مخلوق دے او پۀ سينه کښې زړۀ لري څۀ اوشو کۀ ستا د پتې نه ئې يوه شوره شوتل اوخوړل "

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو د تـاروګي پـهٔ زړهٔ کښې لـږ شـان رحـم هـم نـهٔ راتلـو تـاروګي چې دا ځـل لښتي تـه لاس کـړو نـو تـاروګي تـه داسې محسوسـه شـوه لکـه چې تـاروګي لـه چـا دوه برغـي لتـې ورکـړې وي تـاروګې پـهٔ زمکـه ګـډه وډه راپرېوتـو هغـه چـې پـهٔ خـوارو سـترکو اوکتـل نـو د پيـر صـباق مـولائي صـېب خـره پـهٔ منـډه روانـه وه هغـه يـو نظـر خـرې تـه اوکتـل او بيـا ئې سـترګې خکتـه کـړې لکـه چې ورتـه د خپـل جبـر احسـاس شـوے وي۔

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مينې ګور

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د مینې ګور

ما د انسان په شکل کښې ځناور په وړمبي ځل اولیدۀ اګر چې تاسو به دا وایئ چې د انسان په شکل کښې او ځناور؟.
" او بلکل ....... د انسان په شکل کښې او ځناور "
خو نۀ پوهېږم چې څنګه په کومه ژبه او په کومو لفظونو کښې بیان کړم هغه درد ، هغه څړیکه، هغه احساس او هغه د اوښکو ډکې غمژنې سترګې.
" هائ هائ ....... هېر به مې نۀ شي خو چې دۀ ته ولې دغه درد دغه څړیکه نۀ محسوسېدۀ؟ ....... ما ډېر څۀ لیدلي اؤریدلي او محسوس کړي وو خو داسې حالات، واقعات او ظلم زیاتے مې نۀ ؤ لیدلے ....... اوس هم چې رایاد شي نو غونې رابانديږ ځیږ ځیږ شي او د وجود ویښتۀ مې نېغ اودرېږي او ډېره لویه ویره مې واخلي او د ځان سره دا یوه خبره بار بار کوم چې
" دا انسان ؤ؟"
" نا نا نا ....... څوک وائي چې دا انسان ؤ او کۀ دا انسان ؤ نو بیا دۀ ته دغه احساس ولې وَ نۀ شو اخر چې دا انسانان ولې دومره ظالمان دي ایا ګیني زۀ هم انسان یم او کۀ چرې زۀ انسان یم نو بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو د داسې انسانيت نۀ زما چوټ بغاوت دے ځکه چې هغه مې بلکل د زړۀ نه نۀ اوځي هره لحظه هر ساعت راته هم دغه حالات مخې مخې ته کېږي "

هغه ورځ يۀ ځوان زلمے وينم چې راروان ؤ يو لاس کښې ئې ټوپک او ترخ ته ئې پنجره زوړنده کړې وه او د ښکار نه واپس د خپل کور پۀ طرف د خوشحالۍ نه پۀ ټوپونو ټوپونو راروان ؤ کله چې تر ما راورسېدو نو يۀ شېبه زما سره اودريدۀ چې زما پام سمدستې د پنجرې هغه بې وسه مرغۍ ته شو کومه مرغۍ چې دغې ځوان نيولې وه او د پنجرې پۀ دغه قېد کښې ئې بندي کړې وه.

ما چې د پنجرې هغې قېدي مرغۍ ته پۀ زور زېر اوکتل نو د هغې هغه خوار خوار نظر زما زړۀ راولړزولو او زما پۀ زړۀ ئې داسې زلزله راوسته چې زۀ دَ خود نه بېخوده شوم ما چې کله د مرغۍ پۀ سترګو کښې سترګې ښخې کړې نو ما د هغې مرغۍ د ژوند ټول حال احوال داسې محسوس کړۀ لکه چې مرغۍ ماته خپله ټوله د ژوند قيصه کوله او ما اؤرېدله ما د هغې پۀ سترګو کښې د بې وسۍ د غټو غټو اوښکو سره سره د هغې هغه سوالونه مينتونه هغه چغې کوکارې محسوسې کړې چې د بيانولو نۀ وې هغې هم ښکُلے او ازاد ژوند تېرول غوښتل هغې هم د خپل يار سره د مينې محبت د ژوند خوبونه ليدل هغې هم بچي لرل هغې د خپلو بچو سره د محبت او د خوشحالۍ ژوند تېرول غوښتل د هغې هم کور ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــو د هغــې پــۀ دغــه احساســاتو دغــه ظــالم نــۀ پوهېــدو هغــې د هغــه زنــدان د مــاتولو کوششــونه هــم کــول خــو هغــې هــېڅ تــوان نــۀ درلــودۀ هغــه پۀ دغــه زنــدان کښــې پــۀ ارمــان ارمــان د خپــل ژونــد نــه لاس پــۀ سـر شــوه خـو هغــه ظــالم تــه دا پتــه وۀ نــۀ لګيــده چې مرغــۍ پــۀ اخـري سـلګۍ کښې دا ټپه هم اوکړه چې

زما د مينې کور دې وران کړو
ظالمه خدائے دې پۀ تا اوکړي فسادونه

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لوی سرے

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوې سرې

د کلي ټول خلک پهٔ یؤ ترپ راورسېدل چا پهٔ لاسونو کښې لرګي راخستې وې او چا به خاؤرې ګټې نهٔ کتلې خو رابغولې به ئې یؤ آما لګیا وو سم یؤ لوئې غوبل ؤ چا پکښې دا اواز اوکړو چې

" د اوبو نه کار واخلئ"

نو د اوبو اواز څهٔ ؤ چې د جومات ټوله ټینکۍ بیا د اوبو نه خالي پرته وه ځائې پهٔ ځائې بیا هم لوګي راختل خو چې کوم لوئې نا تاري اؤر د جومات پهٔ بروزه لګېدلې ؤ نو هغه مړ شوې ؤ خلک ټول ستړي ستړي او ساه ساه وو ټولو خلکو به د یؤ بل نه پوښتل چې دا اؤر څنګه او چا لګولې ؤ دغه خبرې اترې لا جاري وې چې یو کس خوا کښې ولاړ د نهه لسو کالو یؤ ماشوم راونیولو او دوه درې څپېړې ئې ترې ښهٔ جوښتې اوتمبولې چې پهٔ هغې سره ماشوم چغې کړې او ټولو راغونډو شوو خلکو زر پهٔ حېرانتیا سره اوکتل بعضو کسانو د ماشوم د خلاصې پهٔ نیت هم وړمنډه کړه خو پهٔ دې کښې صبرو ترور د لرې نه اواز اوکړو او سرتور سر ئې رامنډې وهلې لکه چې د ماشوم پهٔ چغو خبر شوې وه او دغه وه چې راورسېده صبرو ترور د رارسېدو سره پهٔ خپل سر لوپټه سمه کړه د ماشوم د لاس نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئـي د مـاچس ډبـے اوغورځولـو او کلـک ئـې پـۀ خپلـه غـېږه کښـې راونیولـو د ماشـوم د لاس نـه د مـاچس غـورزول د ټولـو خلکـو د پوښتنو جواب وو۔

صبرو تـرور ماشـوم پـۀ تنـدي ښـکُل کړو او دا ئـې اووئیـل چـې دا خـو زمـا سـاده بچـے د ے دومـره ظلـم څـوک کـوي دا خـو نـۀ پـوهېږي نـو تاسـو خـو د جرګـو خلـک یـئ صـبرو تـرور څـو سـتغې سـپورې اووئیلـې د خپـل زوي پـۀ سـر ئـې لاس راښـکود او سـره د خپـل زوي کـور تـه روانـه شـوه ....... سـاده کـۀ رښـتیا سـاده ؤ او کـۀ نـۀ خـو چـې صـبرو تـرور بـه ورتـه سـاده وئیلـو نـو پـۀ ټـول کلـي کښـې پـۀ سـاده مشـهور ؤ د سـاده خپـل نـوم زر ولـي خـان ؤ خـو سـاده نـوم ئـې رښـتیا پـۀ ټـول ژونـد کښـې سـادګي راوسـتلې وه دغـه شـان وختونـه تېرېـدل او زرولـي خـان سـاده د ژونـد ورځـې شـپې پـۀ مختلفـو تکلیفونـو کښـې صـبا کـولې د زر ولـي خـان سـاده د ژونـد تکلیفـات دومـره ډېـر وو چـې بعضـي بعضـي غـټ غـټ تکلیفونـه بـه زر ولـي خـان سـاده تـه هـېڅ هـم نـۀ وو او نـۀ بـه ئـې محسوسول۔

ولـې چـې زرولـي خـان سـاده د صـبرو تـرور مشـرے زو ے ؤ او د زر ولـي خـان سـاده نـه چـې کـوم کشـران ورونـه وو نـو هغـوي ټولـو لـه صـبرو تـرور ودونـه کـړي وو خـو زر ولـي خـان سـاده لـه ئـې لا وادۀ نـۀ ؤ کـړے پـۀ دې راز څـوک هـم نـۀ وو پوهـه چـې زر ولـي خـان سـاده لـه صـبرو تـرور وادۀ نـۀ کـوي او کـۀ زر ولـي خـان سـاده وادۀ کـول نـۀ غـواړي خـو دومـره ضـرور پوهـه وو چـې زر ولـي خـان سـاده یـؤ ډېـر ښـۀ او اخلاقـي انسـان ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چرته تري په ژوند څوک ازار شوي نه وو او په کار روزګار کښې هم د چا نه کم نۀ ؤ بنۀ تکړه انسان ؤ په قد بود هم بنۀ دنګ پوره شپږ نیم فوټه ؤ او نۀ خو په لاسو پښو معزوره ؤ بنۀ سم دم انسان وو خو خدائے خبر چې د زرولي خان ساده د زړۀ دنیا ولې نیمګړې ښکارېده.

کۀ چرته چا به د زر ولي خان ساده نه اوپوښتل چې تۀ ولې وادۀ نۀ کوې نو هغه به نرے شان مُسکے شو خو د دغې مُسکا په معنه څوک هم نۀ پوهېدل او دغسې د زر ولي خان ساده په سر کښې سپین اولګېدل ګیره ئې سپینه شوه او صبرو ترور داسې عمر ته اورسېدله چې د هغې علاج لاتر اوسه پورې نۀ دے پېدا شوے او د څۀ لړې ناروغۍ نه پس صبرو ترور د مرګ په خوب اوده شوه د صبرو ترور جنازې ته د کلي ګڼ خلک راغلي وو هر سړي د زر ولي خان ساده سره خپل غم شریکولو دغه وخت کښې چا د زر ولي خان ساده نه غلي غوندې اوپوښتل چې ساده ګله اوس خو به خپل کور اباد وې کنه ساده ګل یو سوړ اسوېلے اوکړو په مخ ئې غټې غټې اوښکې راوبهېدې او په ګیره کښې ورکې شوې او هغه غریو نیولي اووئیل

" زما عظیمه مور "

زما عظیمه مور چې ژوندۍ وه نو ما د هغې په مینه کښې څوک شریکول نۀ غوښتل او ځکه ما د وادۀ نوم نۀ شو اخستے ما خپل ټول عمر د خپلې مور په خدمت کښې تېر کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خو زۀ"

زۀ پـۀ دې خوشـحاله يـم چـې د هغـې د مـرګ نـه پـس هـم زۀ د هغـې پـۀ مينـه کښـې څـوک شـريک نـۀ کـړم ځکـه چـې زمـا د مـور مينـه ډېـره عظيمـه مينـه ده او پـۀ دغـه غظيمـه مينـه کښـې ماتـه د بـل چـا نـوم شريکول ډېر لوې جُرم ښکاري-

د زر ولـي خـان سـاده پـۀ دې خبـرو سـره ټولـو خلکـو يـۀ بـل تـه اوکتـل او د ځـان سـره ئـې اوبـۀ يـل چـې زر ولـي خـان سـاده خـو ډېـر لـوئـے سـړے دے او بيـا چـې کلـه د زر ولـي خـان سـاده مـور صـبرو تـرور خـاؤرو تـه اوسـپارلے شـوه او جنـازې تـه راغلـي خلـک ټـول خپلـو کورنـو تـه اورسـېدل نـو بيـا چـا د جنـازې اعـلان اوکـړو چـې پـۀ دا ځـل اعـلان کولـو سـره اعـلان اورېـدونکي ټـول خلـک حـق دق او حېـران شـول او دغـه شـان د کلـي محلـت خلـک ټـول خبـر شـول چـې زر ولـي خـان سـاده د خپلې مور قبر ته ډېره وهلې د مرګ پۀ خوب اودۀ ؤ۔

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تش لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library


# تیښ لاس

فخري کاکا چې د لوئې اختر مونځ پۀ عیدګاه کښې ادا کړو نو د یؤ څو کسانو سره ئې د اختر مبارکي اوکړه او نېغ خپل کور پله روان شو څه ساعت پس خپل کور ته د رسېدو سره ئې خپلې کور وداني ګل بشرې ته اووئیل چې

" الله دې زمونږه مدد اوکړي ګینې ډېره ګرانه ده یو خوا ګرانې دومره حد ته رسېدلې ده چې هر څۀ د اسمان سره خبرې کوي او بل خوا کۀ الله پاک راله اولاد راکړے وے نو نن به مې داسې حال نۀ ؤ ولې چې دا وخت زما د کار روزګار نۀ بلکې د جومات پۀ ګوټ کښې د الله الله ذکر کولو دے خو بس څۀ اوکړم مجبوري ده نو......دا نور مخلوق اوګوره خپل اخترونه کوي خوشحالیانې کوي قربانۍ کوي او زمونږ د خوارانو قسمت.........هئ هئ ......پۀ ننۍ مبارکه ورځ مې هم پۀ دې عمر دمه نشته"

او بیا ئې یؤ اسوېلے اوکړو خپل اوزار ئې پۀ اوږه راواړولو او پۀ رپېدلو قدمونو ئې پۀ قلاره قلاره د شاهي پارک لار اونیوه شاهي پارک ته چې اورسېدلو نو وړومبے شروع ئې د شېر عالم او مېمونۍ د قیصې نه اوکړه او چې ګهنټه نیمه کېدله نو فخري

(c) ketabton.com: The Digital Library


کاکا د تمبل پهٔ جړق او د خپل خوږ اواز پهٔ جادو د پارک ټول خلک ګېر چاپېره د خپل ځان پهٔ تماشه کړي وو لا به چا فخري کاکا ته څهٔ ورکول چې یو تور مخي پولیس والا دغه ګنهه خوره کړه او فخرے کاکا تش لاس کور ته روان شو -

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زهر

(c) ketabton.com: The Digital Library


# زهر

دغـه شـپه د کـور ټولـو خلقـو تـه ډېـره درنـه محسوسـېده خـو چـا يؤ بـل تـه اظهـار نۀ شـو کـولے شـپه پخـه وه خـو د ټـول کـور پـۀ دغـه يـوه کوټـه کښـې رڼـا اوس هـم ويښـه وه هغـې تـه پـۀ مېـز ډېـر کتابونـه پراتـۀ وو ياسـمين پـۀ مېـز پـروت د ټـي وي ريمـوټ تـه لاس کـړو او ټـي وي ئې بند کړو۔

بـل خـواه پـۀ مېـز پرتـه د کاغـذ يـوه پاڼـه د پکـي هـوا خوزولـه ياسـمين دغـه پاڼـه راوچتـه کـړه او پـۀ دغـه پاڼـه لـيکلے شـوي خـط تـه ئـې پـۀ زيـر زيـر کتـل .... خـط ئـې لا پـوره لوسـتلے نـۀ ؤ چـې لاسـونه ئـې پـۀ رپـېدو شو

او پاڼـه ئـې د لاسـونو نـه پرېوتـه ........ هغـې چـې پـه رپـېدلو لاسـونو د رڼـا مـخ د مېـز نـه را اوچـت کـړو نـو د رڼـا پـۀ خُلـۀ د زهـرو خوړلو لۀ وجې وينه رابهېدلې وه۔

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تمّنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تمنّا

د هغې هم دغه یوه تمنّا وه! چې کله به هُرېم په څهٔ خبره خفه شوه نو زر زر به ئې پهٔ خپله تمنّا خپل زړهٔ ته تسلي ورکوله او اکثر به ئې بره اسمان ته اوکتل او دا به ئې د ځان سره اووئیل چې

"شکر دے خدایه چې دغه یوه تمنّا خو لرم ګینې ډېره ګرانه ده ولې چې زما ځواني دلته د بېلتانهٔ اؤر اوسېزله او د هغهٔ ځواني د عربستان مسافرۍ"

خو پهٔ هغه ورځ چې د هغې د کور پهٔ کوڅه کښې د ګاډي د ناڅاپي بریکونو اوازونه د هغې تر غوږو شول نو زړهٔ ئې یو درز اوکړو ګېر چاپېره ئې اوکتل او پهٔ منډه دروازې پله ورغله هغې چې د دروازې پهٔ سوري کښې اوکتل نو د هغې تمنّا د خان د ګاډي د ټېر د لاندې اخري سلګۍ وهلې

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library


# جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## جرم

نـۀ ده معلومــه چــې د دې نــه وړانــدې بــه ئــې نــور څــومره خلــک وژلــي وو چــې اوس زمــا نمبــر ؤ او زۀ خــو څـۀ چـې راســره ولاړ نــور هــم يـؤ څــو يــاران وو خــدائے خبــر چــې هغــوي بــه ئــې هــم وژلــي وو او کنــه ....... خو

"هن رښتيا"

د يــو کــس نــيم زيبــرګے زمــا هــم تــر غــوږو شــوے ؤ او داســې راتــه محسوســېدله لکــه چــې راســره نــور يــاران هــم قتلــوي خــو بيــا وروســتو هلـﯖو خبر نـۀ شـوم چـې ګينـې دا ولـې څنګـه او څـۀ اوشـو خېـر! زۀ بيـا هـم پـۀ دې خفـه نـۀ ووم چـې ولـې قتـل شـوم خـو پـۀ دې ضـرور خفـه ووم چـې د قاتـل پـۀ زړۀ کښـې ولـې نـۀ راتلـل هغـه تـه دا احسـاس ولـې نـۀ کېـدلو چـې زۀ دا دومـره غـټ ظلـم ولـې کـووم خـو دومـره بـه اووايـم چـې شـائد هغـه بـه نـۀ پوهېـدو خـو نـا......ولـې چـې پـۀ دغـه وخـت کښـې خـو د قاتـل پلار هم موجوده ؤ۔

او بيــا داســې پــلار چــې ښــه اوږده ســپينه ګيــره پــۀ ســر ســپينه پګـړۍ او لاس کښـې ښـې اوږدې تسـبيح او دا خـو څـۀ چـې پـۀ هـره خبـره کښـې بـه ئـې د احـاديثو حوالـه هـم ورکولـه او د هغـۀ د رويـې نـه داسـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محسوسـېدله لکـه چـې هغـه ښـځه لـوئې پوهـه او پرهېزګـاره انسـان ؤ ولـې چـې هـر چاتـه بـه ئـې ښـځه ښـځه نصـیحتونه کـول او د پـردې کولـو پـه بـاره کښـې خـو بـه ئـې هـر چاتـه نصـیحت کولـو خـو د هغـې بـاوجود چـې د هغـه پېغلـه لـور پـۀ داسـې لبـاس کښـې د خپـل کـور نـه راووتلـه چـې د هغـې نـه حیـا لـه هـم حیـا ورتلله......او چـې پـلار خپلـې لـور تـه اوکتـل نو غاړه ئې تازه کړه او خپلو تسبو له ئې زور ورکړو

لکه چې د غه جرم هغه ته هڅو جرم نۀ ښکارېدو .

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چغې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څپرکی

د قمر ګل کاکا دوکان به پۀ مازيګري کښې داسې ګرم ؤ لکه چې مېله لګېدلې وي ځکه چې پۀ دغه ټول کلي کښې صرف هم دغه يؤ دوکان ؤ او دغه وجه وه چې کۀ د ورځې به د کلي ټول خلک پۀ خپلو کارونو کښې بوښت وو خو د مازيګر اوزګار وخت کښې به ئې د قمر ګل کاکا د دوکان نه سود سودا کوله او ځۀ خلک خو به د مازيګر اينجوائمنټ لپاره هم راتلل يؤ خوا کۀ د خلکو د راجمع کېدلو وجه د ځائے ځګې بنګلا او د زبردستې فضا خوندونه وو نو بل خوا قمرګل کاکا هم د خپل دوکان مخې ته کټونه اچولي وو چې د کلي د سپين ګيرو مشرانو به وربانديې د حُجرې مينه ماتېدله او دغه شان به ور پکښې د روانو چارو سياسي سماجي بحثونه هم کېدل کۀ پۀ پوره نړۍ کښې به څۀ قسم نوے کار هم شوے ؤ نو ټول به ورنه خبرېدل دغه وجه وه چې ټول مازيګر به پکښې د کلي ټول مشران کشران پۀ ډېره مينه راغونډېدل.

هغه ورځ هم د کلي خلک د معمول مطابق راغونډ شوي وو يو ځائے بل ځائے ټولګي ټولګي ګپونه لګولے کېدل چې پۀ دې کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناګهانه یو ډز اوشو چې د ډز اؤرېدو سره د ټولو خلکو توجو ډز پله لاړه ـ څۀ ساعت ټول خلک خاموشه وو خو بیا خپل ګپ شپ ته متوجې کېدل چې د قمر ګل کاکا د کور نه د یؤ ماشوم ورېتې وریتې کریکې راوچتې شوې دغه کریکو اؤرېدو سره قمر ګل کاکا دوکان کولاؤ پرېښودو او پښې ابله ئې خپل کور پله منډه کړه -

خلک هم ټول ډېر پۀ حېرانتیا سره ګډوډ پۀ قمر ګل کاکا وریسې شول قمر ګل کاکا چې پۀ خپل کور ور دننه شو نو د ورننوتلو سره ئې د خپل ورکوټي زوي کاشف خان پۀ لاس کښې تمانچه اولیده چې د تمانچې پۀ لیدو هغه نور هم وار خطا شو او پۀ تُندی ئې پۀ کاشف خان ورمنډه کړه غرض ئې دا ؤ چې د کاشف خان د لاس نه تمانچه واخلي خو لابه ئې د کاشف خان د ورکوټو چاچو نه تمانچه اخستله چې نظر ئې د کور پۀ انګڼ کښې د کاشف خان پۀ مور پرېوتو د قمر ګل کاکا دغه نظر د کاشف خان پۀ مور پرېوتل څۀ ؤ چې زړۀ ئې یو درز اوکړو خُلۀ ئې وچه شوه او پۀ مرۍ کښې ئې لاړې اونښتې او چې د کاشف خان مور له پۀ درنو قدمونو ورنزدې کیدو نو چغې ئې کړې-

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دري بني

(c) ketabton.com: The Digital Library


## درې بنې

هسې خو دنیا دا خبره مني چې ښځۀ د هر کم اصل بوټې دے او چې چرته هم دوه یؤ ځائے شي نو بیا به ئې وطن پۀ سر راخستے وي او چې لاد یوې بلې بنې شي نو بیا خو دنیا څۀ چې اسمان ته هم اوؤر اچوي دا خو فضلي باچا وو چې درې ښځې ئې داسې د لاس لاندې ساتلې وې چې چا خو دې قرت کړے وے او داسې هم نۀ وه چې ګینې فضلي باچا یو غصه ناک سړے ؤ او نۀ داسې وه چې د فضلي باچا د نوم سره باچا تکے ؤ نو دا به ګینې یؤ مالدار او یؤ دولتمند سړے ؤ د فضلي باچا خپل نوم فضل خان ؤ خو د وړوکوالي نه به ورته مور فضلي باچا نوم وئیلو نو هغه نوم ؤ چې پۀ ټول کلي کښې به پۀ فضلي باچا یاد ېدلو فضلي باچا یؤ غریب انسان ؤ پۀ کور کلي کښې به ئې چې څۀ دیاړي مزدوري اوکړه نو ماښام له به ئې پۀ درې واړو ښځو ښۀ پۀ خلاص مټ او پۀ خوشحالۍ خوړله وجه هم دا وه چې قدرت فضلي باچا له داسې خوږ خوي ورکړے ؤ او داسې خوږ مزاجه انسان ؤ چې درې واړه ښځې به ئې تعبیداري وې۔

" هن ....... ربنتیا "

فضلي باچا دومره مست هم نۀ ؤ چې پۀ دومره غریبۍ کښې ئې درې ښځې کولې خو هغه د چا خبره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library


" خدائے چې چاته پيښنه کړي نو ځان دې ورته مېخه کړي "

د فضلي باچا دوه کشران ورونړه وو د ډېر غربت له وجې په فضلي باچا او د هغه په ورونړو د هغوي پلار سبقونه نۀ وو وئيلي فضلي باچا او د هغۀ دواړه ورونړه پۀ داسې عمرونو کښې وو چې يو نا اشنا سړي به پکښې د مشر کشر پېژندګلو نۀ شوه کولے کله چې درې واړه ورونړه زلموټي شول نو پلار ئې وفات شو او د کور ټولې زمه وارۍ د فضلي باچا پۀ سر شوې .فضلي باچا به پۀ کلي کښې دياړي مزدوري کوله او د کور خرچه به ئې وربانديې چلوله څۀ موده پس فضلي باچا د خپلو ورونړو سره مشوره اوکړه او د بابا د لاس پاتې شوے جائيداد نه ئې څۀ حصه خرڅه کړه او پۀ هغه پيسو ئې خپلو دواړو ورونړو له د سعودي ويزې واخستې چې پۀ هغې سره د هغوي د کور ګُزاره روانه شوه او چې څۀ موده تېره شوه نو فضلي باچا خپلو ورونړو له ودونه اوکړل او دغه شان د غربت د ژوند نه ئې لاسونه پۀ وتو وو دغه رنګ چې څۀ کال دوه نور تېر شول نو د فضلي باچا کشرانو ورونړو فضلي باچا له ګاډے واخستو اوس د فضلي باچا او د هغه د ورونړو ژوند ډېر د سور ژوند ؤ پۀ فضلي باچا او د هغۀ پۀ ورونړو به د ټول کلي بحث ؤ او اکثر له به پۀ ټول کلي کښې د هغوي پۀ محنت او اتفاق مثالونه پېش کېدل د هر چا پۀ خُلۀ به بله خبره نۀ وه خو د فضلي ورونړه داسې محنتي دي او داسې اتفاق ئې دے -

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه خبرې وې چې د فضلي باچا پهٔ ورونو د چا د نظر تېرهٔ غشے ورپرېوتو او يوه ورځ دواړه ورونه سحر وختي پهٔ يو ګاډي کښې کار له روان وو چې د ګاډي بريکونه فېل شو او دواړه ورونه سره د ګاډي تباه شوي وو او د دواړو ورونو ښځې فضلي باچا ته پاتې شوې خو هغه ورځ وه او نن ورځ ده کهٔ د فضلي باچا پهٔ کور کښې چا د ښځو شر يا د يوې بلې سره خفګان ليدلے يا د بل د خُلې نه اؤرېدلے ؤ او دا خو څهٔ چې د فضلي باچا خپلې ورومبۍ ښځې هم داسې نهٔ وه محسوسه کړې چې ګينې زما پهٔ حق کښې زما سره نور خلک ولې شامل شوي دي او دغه شان پوره نهه لس کاله تېر شو خو چا ته ئې دا احساس هډو ور نهٔ کړو چې ګينې زهٔ دا هر څهٔ نهٔ شم برداشت کولے او ښهٔ پهٔ خوشحالۍ به ئې د خپلو بنو سره وخت تېراوولو خو چې کله د کلي پهٔ غټ جومات کښې د جمعې د مونځ پهٔ موقع ځان مرګي چاؤدنه اوشوه او د کلي ډېرې تورسرې پکښې کونډې شوې وې او ډېر بچي پکښې يتيمان شوي وو چې د دغه چاؤدني پهٔ شهيدانو کښې فضلي باچا هم شامل ؤ او لاخو د فضلي باچا د مرګ مياشت نهٔ وه پوره چې د فضلي باچا د اولنۍ ښځې بدې ورځې شروع شوې او داسې ورځ دې حرامه وي چې د فضلي باچا ورومبنۍ ښځې ته به دواړه پهٔ ډله شوې نهٔ وې او پهٔ شريکه به ئې وهلې نهٔ وه۔

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ننداره

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ننداره

ما لاهغې ته په ورومبي نظر سم کتلي نۀ وو چې سترګو مې زړۀ ته د هغې د سپين مخ تصوير لکه د اسماني بجلۍ د پړق پشان رسولے ؤ او بيا زړۀ ته د تصوير رسېدل هم داسې وو چې د زړۀ په درياب کښې مې بې چپنې او ناقرارتوب داسې چپه اووهله چې زۀ به ئې بيا بيا هڅولم چې يؤ ځل بيا د هغه ښاپېرۍ د حُسن ننداره اوکړه ـ خو بل خوا کۀ هر څو د هغې ښائست زړونه په خپل ځان پسې لکه د مقناطيس راښکودل خو زما په سترګو کښې هم د حيا درياب داسې په موج کښې ؤ چې سترګې مې خکته کړې او د خپل ځان سره مې رو غوندې اووئيل چې

" مړه داسې ښائستونه مۀ ګوره د کوم ښائست چې تۀ قابل نۀ يې "

خو په دې خبره مې زړۀ قائل نۀ ؤ او بيا بيا به ئې د هغه ښائست ننداره کول غوښتل او دغه شان ئې داسې د خود نه بې خوده کړم چې سترګې مې اوچتې کړې او يو ځل بيا هغې ته په کتو مجبوره شوم خو دا ځل کتل داسې نۀ وو دا ځل چې ما هغې ته اوکتل نو هغې هم ماته داسې کتل چې د هغې کتل هم زما د کتلو نه کم نۀ وو ـ

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څادر

(c) ketabton.com: The Digital Library


# څادر

د سوات په نوي جوړ کړے شوي موټروے سفر کول د نازو ډېر غټ ارمان ؤ د کله نه چې د سوات په موټروے د ګاډو تګ راتګ شروع شوے ؤ نو نازو به هره ورځ خپل خاوند ته د سوات په موټروے د سفر کولو فرمائشونه کول او د نازو خاوند به د خپل کار روزګار او خپلو مصروفیاتو لهٔ وجې نازو ته یوه بهانه او بله بهانه کوله خو دوېمه ورځ وه چې نازو هم خپل ځان بوټ کړے ؤ یؤ ضد نیولې وه او د خپل خاوند سره به ئې سمې خبرې هم نهٔ کولې تر دې چې نازو خپل خاوند دغې خبرې ته تیار کړو خبره ئې اومنله او دغه ورځ د سوات په موټروے تر پېښوره راغلهٔ.

نازو چې په پېښور کښې د بي ار ټي (BRT) بسونه اولیدل نو یوه بله تمنّا ئې په زړهٔ کښې راوچته شوه او خپل خاوند ته ئې اووئیل چې

" هسې هم پېښور ته راغلي یو او خدائے خبر چې بیا به کله راځو خو پهٔ دغې غټ ګاډي کښې خو راله یؤ چکر راکړه کنه "

د نازو خاوند اول خو نازو ته انکار اوکړو خو چې نازو ته ئې اوکتل چې پهٔ مخ ئې د خفګان اثار راخوریدل شروع شول او د نازو پهٔ هر وخت کښې ضدونه ئې مخې ته شو نو زړهٔ ئې د نازو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارمـان هـم نیمګړے پرېخښـودل نـۀ غوخښـتل او د نـازو سـره پـۀ دغـه خبره متفق شو۔

نـازو چـې پـۀ سـتاپ بانـدې ګـاډي تـه اوختلـه او ګـاډے روان شـو نـو نـازو تـه داسـې محسوسـه شـوه لکـه چـې نـازو پـۀ اول ځـل داسـې سفر کـړے وي او لکـه چـې د دې نـه مخکښـې ئـې چرتـه نـۀ ؤ کـړے پـۀ نـازو د دغـه ګـاډي د چکـر دغـه سـفر ډېـر ښـۀ اولګېـدو او زړۀ ئـې غوښـتل چـې ټولـه ورځ ئـې پـۀ دغـه ګـاډي کښـې چکـرې لګـولے تـر دې چـې نـازو د پـوره پېښـور د بـې ارتـې پـۀ سـړک چکـرې راتـاؤ کـړې خـو چـې کلـه پـۀ سـتاپ د ګـاډي نـه راکوزیدلـه نـو د هغـې هغـه څـادر چـې د هغـې حیـا وه هغـه څـادر پـۀ کـوم کښـې چـې د هغـې هـر څـۀ پـټ وو اونښـتو او نـازو د بـې ارتـې نـه د راکوزیـدو پـۀ پـړوو کښـې ډېـره بـده بـده راپرېوتـه او چـې د نـازو خاونـد د نـازو راوچتولـو لپـاره رارسـېدو نو نازو بیا وازه خُلۀ پرته وه۔

*******

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی محمد رسول ایلم د ځوانو د عصر یو زیرک او باشعوره ځلمی دی چې د شعر ونیلو سره سره د نثر لیکلو د اهمیت او ضرورت احساس هم ورسره شته او د دغه احساس ترمخه د خپلو افسانو ورومبی مجموعه "غوټۍ اوړېده" په کتابي صورت پښتونه اولس ته سپارل غواړي. دې مجموعه کښې ټولې شل افسانې شاملې دي. د جوړښت او رغاونې له مخه دا مختصرې افسانې دي خو د اختصار باوجود د افسانې کړه وړه او فني جوړښت ته د لوستونکیو توجه ځان ته راګاږي. په هره افسانه کښې د ښاغلي ایلم مشاهده، د هر کردار د ماحول او نفسیاتو ته مخه متوجه او ساهو ترجماني، د پلاټ او واقعاتو په تسلسل کښې د تلوسې رنګ او په مجموعي توګه د پښتنې کلیوال ژوند عکاسي د ښاغلي ایلم افسانو کښې لا زیات زړه راښکونه پیدا کوي. د افسانې په میدان کښې د ښاغلي ایلم جان دا ورومبی قدم ډومره امیدناک دی چې په یقیني توګه د هغه د راروانو قدمونو نقشونه به ډېر پاخه او ځلانده ثابتوي. زه پوره اعتماد سره وایم چې د ښاغلي محمد رسول ایلم "غوټۍ اوړېده" به د پښتو افسانې د تخلیقي سفر ته "غوټۍ اوغوړېده" کړ مطلعه وارسي او د هغه د افسانوي سفر غوټۍ به ضرور غوړېدلې وي.

په مینه

پروفیسر ډاکټر حنیف خلیل

اسلام اباد، ۱۰ اکتوبر ۲۰۲۱ء

عامر پرنټ اینډ پبلشرز پېښور
aamirpoint2019@gmail.com
0300-9019499

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**